# د استاد یاد

د منځنۍ آسیا د لوي علمي شخصیت
پوهاند عبدالحي حبیبي ژوند او آثار

لیکوال

حبیب الله رفیع

۱۹۸۵ ع

# تړون

د لوي استاد د درنۍ مېرمنې
له لوړ نامه سره
چې
د ژوند ټولې سړې تودې يې
په ورين تندي ور سرته وزغملې
او
د ناروغۍ په سختو شپو او شېبو کې يې
يوازينۍ پرستاره او مدد گاره
وه

په مينه
ح، رفيع

بسمه تعالیٰ

# سریزه

علمي توابع او هستۍ که څه هم جسماً په یوه ملت پورې تړلې وي خو په حقیقت کې دوی یوه ګډه بشري هسې ده، دوی دومره واړه نه وي چې په محدودو سیاسي چوکاټونو کې محدود پاتې شي، د دوی د علم دوني میوه ټول بشر ته رسیږي او د ټولو انسانانو خوله خوږوي.

دا ډول هستۍ د بشر د تاریخ د ویاړ شملې دي او ټول بشریت په ګډه ویاړ پرې کولې شي او د ګډو تاریخي افتخاراتو په حیث ورته د احترام سرونه ټیټوي.

د بشسري علم او پوهني خدمتکاران مړینه نه لري، هغوئ جسماً دې نړۍ څخه ځي خو معناً تل په بشري ټولنه کې پاتې کیږي او د خپلو ژوندیو خدمتونو په وسیله د بشریت په تاریخ کې لوړ مقام لري.

پوهاند عبدالحي حبیبي همداسې یوه علمي هسې وه چې جسماً د افغانستان له سر لوري ملت سره تړلې ؤ خو د کار او علمي خدمت په ساحه کې د افغانستان، پښتونخوا، منطقې او شرق یو نابغه او پیاوړې محقق او عالم ؤ، ده تر نیمه پیړۍ زیات د علم خدمت کړې ؤ، نوی علمي نکات یې را بر سېره کړې او پاخه تحقیقونه یې کړې وو چې په شرق سربېره د غرب محققینو یې هم په آثارو تکیه کړې او د سند په توګه یې وړاندې کول، د یونسکو بین المللي علمي موسسې یې په نړیوالو ژبو آثار خپاره کړې وو، او په افغانستان، پاکستان، ایران، او مصر کې یې کتابونه خپریدل او د یادو شوو هیوادو علمي مجلو یې ګټور تحقیقونه او مقالې خپرولې.

د استاد مړینه یوه لویه ضایعه ده چې د شرق د علم په نړۍ کې پیښنه شوه. موږ په دې رساله کې له ده سره د آشنایۍ په غرض د ده ژوند او آثار څېړو او په لنډ ډول یې وړاندې کوو، زهٔ دلته دا هم باید یاده کړم چه دا استاد مقام ډېر لوړ او عالي دئ خو زما قلم ډېر ناتوان او کار مې نیمګړې دې.

په دې لیکنه کې ما سره له دې چې د استاد بېلا بېلو آثارو ته مراجعه کړې خو اساسي مأخذ او سند مې هغه سوانح ده چې دوی په خپل قلم لیکلې او ما ته را سپارلې ده او هم دا لیکنه زما په هغه شل کلنه مطالعه ولاړه ده چې د لوی استاد د یوه واړه شاګرد په توګه مې له دوی سره بې له انقطاعه ناسته پاسته درلوده او دوی د یوه مشفق استاد او یوه مهربانه معنوي پلار په توګه زما سر پرسي او لار ښود کوله.

زۀ په داسي حال کي چي تاسو درانه لوستونکي د دې رسالې لوستلو ته رابولم د دوي پاک روح د لوي خدايٍّ له دربار څخه ښاد غواړم!

په مينه

حبيب الله رفيع

پېښور، کوز تاکال

١٩٦٣/٥/١٩ ع ١ ٨٤٧/٨/١٩ ش

# لومړي برخه

# د استاد حبيبي د ژواندانه

# بيلابېل اړخونه

خدايه څه شول؟ هغه ښکلي ښکلي خلق        په ظاهر په باطن سپين سپيڅلي خلق
هيڅ خندا مي له دې خلقو سره نه شي        ژړوي مي هغه تللي، تللي خلق

مَوتَ العَالِمِ مَوتُ العَالِمِ

د ۱۹۸٤ع کال د مي نهمه نيټه يوه ويرمنه او له غمه ډکه ورځ وه، په دې ورځ يو لوي عالم او علامه، يو لوي استاد او استاد الاساتيد، د پښتونخوا او منطقې يو لوي نابغه محقق او اديب پوهاند عبدالحي حبيبي له دې نابودي نړۍ ته د تل له پاره سترګي پټي کړې، له موږ نه يې د آخرت سفر وکړ او د علم او ادب په حلقو کي يې خپل ځاي د تل له پاره تش پرېښود.

هو!

په دې ورځ داسي زړۀ له غورځنګه ولويدي چه تر نيمي پيړۍ زيات د خپل هېواد، اولس، ژبي، ادب، او ثقافت په مينه کي خوځېدلي اي ټپېدلي ؤ.

په دې ورځ داسي مغز له کاره ولويد چي تر نيمه پيړۍ زيات يې د علم، ادب، تحقيق، تتبع او تفکر په ساحه کي فکرونه او سوچونه وهلي وو، نوې علمي باريکۍ او لاري يې موندلي وې او نوي علمي او ادبي رازونه يې کشف کړي وو.

په دې ورځ داسي ګوتي له قلم نه بېلي شوې چي تر نيمه پيړۍ زيات يې قلم د علم او پوهي ليکلو او خورولو ته ګمارلي ؤ او په لسهاؤ زره پاڼي يې د علم، ادب، تاريخ او نورو علمو په ساحو کي پرې ليکلي وي.

په دې ورځ هغه ژبه له خبرو نه ولويده چي تر نيمه پيړۍ زيات عمر کي يې پاخه او علمي بحثونه کړي وو او په عادي صحبتونو او مرکو کي يې په ډېرو خوږو الفاظو ډېر علمي رازونه او رمزونه او معلومات او تجربې خپلو صحبت کړونو ته رسولي وو.

په دې ورځ له هغه تن نه ساه ښېله شوه چې تر نیمه پېړۍ زیات په خپله تیاره ټونله کې د ډیوې غوندې ځلیدلی ؤ، ځان یې سوځاوه خو خپله ټولنه یې روښانه کړې وه او خپلې ټولنې ته یې د خپلو تل پاتې اثارو نه فنا کیدونکې ډیوې بلې کړې وې.

او بلاخره د مې میاشتې خپله هغه لویه لورینه چې ۷٤ کاله پخوا یې پر موږ کړې وه، بیرته واخېسته.

هو! استاد حبیبي مشفق استاد ؤ، صمیمي دوست ؤ، متواضع عالم ؤ، په هیواد او معنوي شتمنیو مین افغان ؤ، زړهٔ سواند انسان ؤ، دردمن لیکوال ؤ اور ژبې ادیب ؤ، دقیق محقق و، پوخ نقاد ؤ او...

ما ته د ده د شاګردۍ شل کلن افتخار را په برخه دی یعنې کله چې ما قلم په لاس اخیستی او ګوډې ماتې کرښې مې پرې لیکلې، ده زما سرپرسي او څارنه کړې د تحقیق او څه لیکلو په تاریکو او باریکیو کې یې لار ښودنه راته کړې، اسناد یې را سپارلي، منابع یې راته ښودلي او د لیک او څیړنې د فن لاره یې راته په ګوته کړې ده، خو ”چه نسبت خاک را با عالم پاک“ هغه لوی انسان ؤ، عالم شخصیت ؤ، د وخت علامه اؤ نابغه ؤ خو زه جاهل پاتې شوم، بې پوهې پاتې شوم، بې توښې پاتې شوم او بې تهېې پاتې شوم، یوازې او یوازې دا ویاړ لرم چې د دوی په خدمت کې پاتې شوی یم خو دا ارمامن را سره پاتې دی چې ما د دوی خدمت و نه کړای شو، د دوی د ناروغۍ اي کمزورۍ په وخت کې له دوئ نه لیرې، ډېر لیرې او په فرسخونو لیرې پاتې شوم او د دوی وروستې دیدن مې نصیب نه شو.

استاد حبیبي یوازې په ما حق نه لري، په ټولو افغانانو حق لري، په ټولو پښتونو حق لري، په ټوله منطقه حق لري په ټول شرق حق لري او د علم په ټوله نړۍ حق لري نو ځکه یې مړینې د هیواد، سیمې، شرق او غرب ټولې علمي حلقې خواشنې کړې او د ده ضیاع یې یوه لویه علمي ضیاع او نه جبیره کیدونکې ضیاع وبلله.

دلته دا هم د یادولو ده؛ مخکې له دې چې زه د ظلم وحشت او پردې تاړاک او ناروا واک له امله خپل خوږ وطن پریښودلو ته اړ شم یوه ورځ د استاد حضور ته روغلی وم، مخې ته یې کاغذونه ایښې وو، ما پوښتنه ترې وکړه:

استاد دا څهٔ دي؟

د وې وویل:

دا زما سوانح ده، چا را نه غوښتې وه، ورته لیکلی مې ده او څو نسخې مې ترې فوټوکانی کړې دي، که کومه نسخه یې دې په کار وي در سره وایې خله!

ما په ډېره مینه او نتده یوه نسخه ترې را واخیستله او کله چې له افغانستان نه راتلم له ځینې نورو ضروري کاغذونو سره مې د دهٔ سوانح عمري هم را سره راوړه او په دې لیکنه کې سندي تکییه تر زیاته حده په همدې د ده د خپل لاس لیکلې سوانح باندې شوې ده.

# د استاد کورنۍ او زوکړه

د کندهار ښار د بامیزو په کوڅه کي د احمد شاه بابا له وخته د ملا بابړ مسه خیل کاکړ یوه کورنۍ اوسیده، چي په خپله ملا بابړ د لوړ ړوب له مسه خېلو څخه د ۱۱۵۰ هـ ق (۱۷۳۷ع) کال په شا او خوا کي زاړه کندهار ته راغلي ؤ، دئ د کندهار لوي مدرس او د اسلامي علمو استاد او د فضیلت څښتن عالم ؤ، له اسنادو نه داسي ښکاري چه د ملا بابړ په ژوندانه کي د ده زوي ملا فیض الله د احمد شاهي سلطنت د پاي تخت لوي ملا او د شاه ولي خان صدر اعظم د کورنۍ لوي استاد ؤ، دی د پښتو، فارسي، عربي مؤلف، شاعر، او تکړه لیکوال ؤ چه په عربي ژبه یې د منطق یوه ابتدایي رساله د خپل زوي حبیب الله د زده کړي له پاره تالیف کړې او پر تجوید هم یو کتاب لري، د تحقیق التوبه رساله یې په عربي کښلې ده او د پښتو شعر یوه فصیحه او خوږه نمونه یې لرو.

د فیض الله اخوندزاده زوي مولوي حبیب الله ؤ چي په علمي حلقو کي په محقق قندهاري مشهور ؤ، په افغانستان، هند، او ایران کي بې زده کړه کړې وه، د وخت په منقولو او معقولو علومو یو عالم ؤ، او په دیني علمو، ریاضي، هندسه، منطق، اخلاقو او نجوم کي یې په پښتو، فارسي او عربي ژبو گټور او ابتکاري آثار کښلي دي چي په کندهار کي په ۱۲۶۳ هـ ق (۱۸٤٦) وفات شوي دئ.

د محقق قندهاري زوي مولوي عبدالرحیم اخونزاده هم لوئ عالم او د کابل په بالا حصار کي د امیر شیر علیخان د ولیعهد عبدالله جان استاد و او په ۱۲۹۸ هـ ق (۱۸۸۰ ع) کال کي چي امیر عبدالرحمن خان کندهار فتح کړ نو یې مولوي عبدالرحیم په خپله توره د خرقې شریفي د گنبدي په مدخل کي وواژه، د مولوي عبدالرحیم د یوه زوي نوم ملا عبدالحق ؤ چي دي هم د خپل وخت یو پوه او عالم شخصیت ؤ.

استاد حبیبي له همدې لوي علمي کورنۍ سره تړلي ؤ او د همدې لوي علمي وني یو علمي مېوې ډک ښاخ ؤ، ده له یاد شوي ملا عبدالحق کره د کندهار په بامیزو په کوڅه کي د ۱۳۲۸هجري قمري کال د دوهمي خور په ۱۷ نیټه) چي د ۱۹۱۰ع کال د اپریل له ۲۸ او د ۱۲۸۹ هـ ش کال د ثور له ۷ سره سمه ده) د پنجشنبي په ورځ دې نابودي دنیا ته سترگي وغړولې.

پلار په خپل نوي ماشوم عبدالحي نو کینبود او دی لا همداسي ماشوم ؤ چي د پلار سوري یې له سر نه لیري شو او زمانې د یتیمۍ سپېره څاپېره په مخ ورکړه.

# د استاد زدهٔ کړه او مطالعه

د يتيمۍ ځاپېړي د استاد حبيبي مخ شين کړ خو له کورني علمي ميراث نه يې کوږ نه کړاي شو، ده د خپلو ځنډنو (اسلافو) لاره وپالله او زده کړې ته يې کلکه ملا وتړله، استاد ديني عنعنوي زده کړه د کندهار ښار په جوماتونو که پيل کړه، همداوخت په ۱۹۱۹ ع کال د افغانستان خپلواکي تر لاسه شوه او د هېواد په گوټ، گوټ کي ښوونځي پرانستل شول، استاد هم د کندهار د شاله مار به لومړني ښوونځي بري ليک تر لاسه کړ او په پنځلس کلني کي د کندهار ښار په يوه لومړني ښونځي کي د ښوونکي په حيث ومنل شو او وټاکل شو.

لکه چه ومووېل د استاد حبيبي کورنۍ د علم کورنۍ وه، ده د جومات او ښوونځي په زده کړه بسته و نه کړه، د کتابونو ډېره کوچنۍ پانگه له پلار نه په ميراث ورته رسېدلي وه، په دې ذخيره کي د علامه محمود طرزي د سراج الاخبار کلکسيونونه د کلکتي د حبل المتين د مشهوري جريدي کلکسيونونه او د محمود طرزي ليکل شوي کتابونه چي په کابل کي چاپ شوي، موجود وو.

د استاد حبيبي سترگي په هماغه ماشومتوب کي د مولوي جلال الدين بلخي په مثنوي، د خواجه حافظ په ديوان او د شيخ سعدي په گلستان او بوستان خلاصي شوي وې، د ښوونځي د زده کړې په وخت کي يې په رسمي درسونو سربېره له خپل تربره مولوي عبدالواسع نه د صرف نحوي، رياضي، هېأت، فقه، اصول فقه، منطق بلاغت، عروض او قافيې لومړني کتابونه ولوستل؛ د ده تربور هم د همدې علمي کورنۍ يو غړي ؤ؛ چي پوخ ليکوال، زړور نقاد او اورژبي خطيب هم ؤ، د دولت د قوانينو په ترتيب کي يې (چي هغه وخت نظامنامې بلل کېدي) لويه برخه درلوده او کله چي په ۱۳۰۸ هـ ش\۱۹۲۹ ع کال کي پر افغانستقان باندي د سقو د زوي په مشرۍ قانون د ښمنه غله مسلط شول دئ يې توپ ته وتاړه او شهيد يې کړ؛ شهيد مولوي عبدالواسع د زده کړې خاص طرز او آسانه لار درلوده او استاد حبيبي يې له همدې لنډې لاري نه د يوه کال په اوږدو کي د علومو له مبادي سره روږدي کړ.

د استاد حبيبي بل استاد اروانښاد علامه مولوي ابوالوفاء کندهاري ؤ چي د ژوند تر پايه پوري يې په جنوبي هند کي د دکن په نظاميه مدرسه کي د فقه او قرأعت د استادۍ چاري تر سره کولې؛ دی هغه وخت په کندهار کي د دوي په کورني جومات کي استوگن ؤ، مولوي صاحب هم يو لوي عالم ؤ، له ده نه يې هم په ادبياتو، علم قرأت او هغو کتابونو کي چه منتهيان يې په درس لولي زياته گټه واخيسته او د احاديثو درسونه يې له خپلو دواړو استادانو نه ونغوږل.

استاد حبيبي همدغه وخت چي د اقليدس د اشکالو د جاز او لايجوز او د منطق د صغرئ او کبرئ په کږليچونو کي سرگردانه ؤ؛ د کابل د نويو ښوونځيو جغرافيا، طبيعيات، او حساب يې هم اولوست، سراج

الخبار او حبل المتین یې مطالعه کول او بیا یې له "کاوه"، "ایرنشهر"، "ارمغان" او "الهلال" مجلو نه خپله علمي ساحه پراخوله او زده کړه یې ترې کوله.
لوي استاد د کار په دوره کې هم زده کړه نه پریښوده، همدا وخت یې انګلیسي او اردو ژبې هم تر یوه ځایه زده کړې، او د دې دوو ژبو کتابونه یې مطالعه کول، د تاریخي څېړنو لار او میتود یې له "کیمبرج هستري آف انډیا"، هندي او مصري لویو لیکوالو لکه جرجي زیدان، شبلي نعماني، او سید سلیمان ندوي له آثارو، د برلین د کاوه مجلې له مقالو او د محمد قزویني له ګټورو آثارو نه زده کړل.
له یوې خوا ښه ذهن او ذکاوت، له بلې خوا د علم پرله پسې هڅې او تلاش له عبدالحي سره د حبیبي تخلص چه علامه حبیب الله قندهاري ته منسوب دی زیات کړ. متتبع او لوي لیکوال یې ترې جوړ کړ په لسهاؤ ګټور آثار یې ولیکل او په سلهاؤ مقالې یې نشر کړې، د شرق او غرب په علمي حلقو کې یې په آثارو علمي تکیه وشوه، او د علمي لاسوند او سند په توګه ومنل شول.

# استاد د ښونکي او استاد په حیث

مونږ مخکي یاده کړه چه استاد د ژوند بېل بېل اړخونه او ابعاد درلودل، لکه څنګه چې تاریخي نوابغو او علامه عالمانو به د ژوند په ډېرو چارو کې لاس درلود، په یو وخت کې به په څو سره بېلو علومو کې ماهر او وارد ؤ؛ استاد هم همداسي یو شخصیت ؤ، د ده ژوند ډېر اړخونه درلودل، هر اړخ یې کامل او بشپړ ؤ او ابتکاري ګامونه یې پکي اخیستل چي له دې نه یې یو اړخ هم د استادۍ اړخ دئ.
استاد پنځلس کلن ځوان ؤ چې د افغانستان د آزاد او انقلاني دولت له پروګرام سره سم د کندهار په یوه لومړنۍ ښوونځي کې ښوونکي وټاکل شو؛ په دې توګه د دهٔ لومړني دنده (وظیفه) او اجتماعي مسئولیت د ماشومانو د روزني له درانه کار نه پیل شو؛ ده دا وظیفه درې کاله په بریالیتوب سره تر سره کړه.
په ۳۲ کلنۍ که یو ځل بیا د استادۍ زمینه مساعده شوه، دی د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي مؤسس رئیس ؤ، دې پوهنځي نه درسي پروګرامونه درلود، نه درسي کتابونه، نه استادان او ښونکي؛ استاد له لویې ازمویني سره مخامخ ؤ، د پوهځي په اداره او تنظیم سربېره یې د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړي ټوک د همدې پوهنځي د تدریس له پاره تالیف کړ او شاګردانو ته یې درس ترې ورکړ؛ دا ځل دی د لومړنۍ زده کړي په ځاي د لوړو او عالي تحصیلاتو په تدریس مؤظف ؤ او له دې ازمویني نه هم داسي بریالي راووت چي دې پوهنځي ته یې پخه خښته کینښوده، اوس چي دا ښونځي د پاخه عمر ده، بیا هم د ده هماغه د ادبیاتو تاریخ پکي لوستل کیږي او په دې سربېره دا کتاب د پیښور پوهنتون د پښتو څانګي په درسي کتابونو کي هم شامل دئ.

دریم ځل په سپین ږیرتابه کو د استادۍ دنده ورته وسپارله شوه، دا ځل د زده کړې او تدریس بله مرحله وه، دا په هماغه ادبیاتو پوهنځي کي د ماسټري پروگرام ؤ، د دې له پاره هم استاد په ۱۳۵۷ هـ ش ۱۹۷۸\ع کال وگومارل شو، دا هم نوې شرو او نوې بناه وه او د دې بنا د بنسټ ځښته هم د دوي په لاسونو کېښودله شوه چي په مینه یې ټولني ته د دې دورې د شاگردانو په بریالي وتلو سره د دې زیار مېوه هم تر لاسه کړه او په دې توگه د درس له لاري ده په زرهاؤ شاگردان وروزل او د ژوند په بېلا بېلو ډگرونو کي یې د استادۍ مقدسه دنده په بشپړ بریالیتوب او علمي صلاحیت سره تر سره کړه.

# استاد د ژورنالست او صحافي په حیث

د استاد د کار او فعالیت دوهم میدان د ژورنالیزم او صحافت میدان دئ، دی په ۱۳۰۶ هـ ش \ ۱۹۲۷ع کال د هېواد د یوې مهمي جریدې طلوع افغان چي د افغانستان د خپلواکي له تر لاسه کیدلو نه ورسته په ۱۳۰۰ هـ ش\۱۹۲۱ع کال را وتلې وه او د خلکو د تنویر او تبلیغ وظیفه یې درلوده، د مدیر معاون وټاکل شو، ده نظري ژورنالیزم د سراج الاخبار حبل المتین او د وخت د نورو کورنیو او باندنیو خپرونو په رڼا کي مطالعه کړي ؤ خو دلته عملاً دې کار ته ور دننه شو، تیز استعداد د پرمختگ دروازې ورته خلاصي کړې او د بابه عبدالعزیز غوندي په هیواد مین او خواخوږي پښتون یې (چي دا وخت د طلوع افغان مدیر ؤ) په دې لار کي لارښود شو.

د سقوۍ په توره دوره کي چي د هېواد واکي د غلو په لاس کي لویدلي وې (۱۳۰۸هـ ش ۱۲۲۹\ع) استاد ظاهراً د اخبار معاون ؤ خو عملاً هر څه د ده په غاړه وو ځکه بابه عبدالعزیز ناروغه ؤ، ده په دې حساس وخت کي هم اخبار وچلاوه او بیا په دې کا کي دومره پیاوړي شو چي په ۱۳۱۰ش ۱۹۳۱\ع کال یې رسماً مدیر شو او د ۱۳۱۱هـ ش کال له پیل نه بې د کندهار د هغه وخت د رئیس تنظیمه اروانباد محمد گل مومند په امر دا جریده ټوله په پښتو کړه او د هغه وخت د ژورنالیزم له ټولو اصولو او معاییرو سره سمه یې وچلوله، دا په حقیقت کي د پښتو لومړنۍ جریده ده او پوره لس کاله یې دی مدیر پاتي شو چي وخت په وخت یې نوي ابتکارات پکي وکړل او د پرمختگ په مسیر کي یې واچوله.

کله چي په ۱۳۱۹ ش ۱۹٤۰\ع کال کابل ته راغي او د پښتو ټولني مشر شو، دلته یې کابل مجله هم په خپل لاس کي واخیسته او د ریاست په چارو سربیره یې دا مجله هم وچلوله په کابل مجله کي یې هم نوي لاري پرانستلې، تنوع او علمي درنښت یې پکي راوست او د همده په وخت کي کابل مجله هم ټوله په پښتو واوښته او یوه بشپړه معیاري پښتو مجله یې خپره کړه.

له ۱۳۲۹هـ ش ۱۹۵۰\ع کال نه وروسته چي لوي استاد د ظلم او استبداد له لاسه له هېواده croot او ورور هېواد پاکستان ته را مهاجر شو، دلته هم د ژوند له راز، راز مشکلاتو سره، سره د ژورنالیزم له سنگر نه

ځنگ ته نۀ شو؛ د جمهوريت بړغ په مجله کي يې انقلابي سياسي مقالې خپرې شوې او په پېښور کي يې د آزاد افغانستان جريده په پښتو او فارسي نشر کړه. د افغنستان د مظلوم اولس د حقيقي آزادۍ غږ يې پورته کړ، د افغانستان د وخت د واکدارانو غير ملي سياست يې افشاء او رسوا کړ، د پخو تاريخي استاندو په رڼا کي يې له افغان اولس سره شوي خيانتونه را بر سېره کړل او د افغانانو سياسي او ملي غورځنگونه يې وڅېړل، هم دا وخت يې د کراچي د سروش په ادبي مجله کي د افغنستان د ادب او تاريخ په باب ډېري مقالي په فارسي ژبه خپرې کړې او د دې مجلې د ادارې غير مستقيمه څارنه يې کوله.

په ۱۳٤۱ش ۱ ۱۹٦۲ع کال چي استاد يو ځل بيا هېواد ته را ستون او بيا په ۱۳٤٥ش ۱۹٦٦۱ ع کال د تاريخ ټولني رئيس شو دا وخت يې د آريانا مجله تر بشپړي څارني لاندي خپروله؛ ټولي مقالې به يې کتلي، سمولي، يادداشتونه او توضيحات به يې پرې ليکل؛ ما د آريانا مجلې د مرستيال په توگه د دې افتخار درلود چي د دوي تر سر پرستۍ لاندي کار وکړم او واقعاً چي د دوي حوصله د علم له نشر سره مينه او په دې لاره کي ذوق او سليقه يې ساري وو او دا وخت يې هم پوره پنځه کاله دا مجله په لوړ علمي معيار نشر گړه او هم به چي هرې نشراتي مؤسسې معلومات ترې وغوښتل دوي به د خپلو تجرنو په رڼا کي سالمه او عالمانه لارښودنه ورته کوله، او په دې توگه استاد د ژوند به بيلا بېلو مرحلو کي له ځوانۍ څخه تر زړبودۍ پوري د هوه ژورنالست او صحافي په حيث پاتي شو.

## استاد د هنري ادبياتو د ليکوال او شاعر په حيث

استاد حبيبي چي کله د طلوع افغان مدير ؤ، د اخبار د خپرونو او تبصرو تر څنگ ئې ادبي ليکنو، شعر، افسانې، ناول او نورو هنري نثرونو ته هم اړه درلوده؛ دی مجبور ؤ چي د اخبار ټولي خواوي بشپړي کړي؛ همدا وخت لکه څنگه چي په پيښور کي استاد راحت زاخيل د پښتو د هنري نثر نوي اصناف لکه افسانه، ناول، تکونه او نور را منځ ته کړي وو همداسي په افغانستان کي هم د لومړي ځل له پاره استاد حبيبي په دې لاره کي قلم وچلاوه، خوږې ادبي ټوټې (ادب لطيف) يې دود کړي، د ويکتور هوگو د بېوزلان ناول يې ترجمه کړ، د شعر زاړه قالبونه يې مات کړل او په شعر کي يې نوی فورمونه او شکلونه رامنځ ته کړل.

ده بيا وروسته ادبي ليکونه ته د ژوند تر پايه دوام ورکړ او په خواږه نثر يې ډېري ادبي ليکني وکړې چي يوه لويه درې ټوکيزه مجموعه ترې جوړه شوه او په افغانستان کي بې د هنري نثرونو د مؤسس او سر لاري نوم تر لاسه کړ.

استاد شاعري هم له ليکوالۍ سره سمه پيل کړې وه، په پښتو او فارسي يې خواږه شعرونه ويل او د عربي او اردو او انگليسي ادبي آثار او اشعار يې ترجمه کول. د ده زيات شعرونه په طلوع افغان، کابل

مجله، آزاد افغانستان، سروش، آریانا او نورو مجلو کي نشر شوي او هم يې ملي پسرلي، پیغام شهید، غزنه، درد دل،، پیام عصر، او خلیلي نامه وړې وړې شعري رسالې خپرې شوي دي.
د استاد له شعر سره دومره مینه او علاقه وه چي حتی د ژوند په وروستي ورځ يې هم یو عربي شعر په فارسي ژباړلي دي.

## استاد د ژبپوهاند او ژبني علومو د ماهر په حیث

کله چي استاد لیکوالۍ ته ملا تړله، ده ژبنۍ زده کړه کړې وه، او په عربي صرف و نخو کي ښه وارد ؤ، د همدې زده کړې په رڼا کي يې د پښتو ژبي د ورزده کولو او عامولو فکر هم کاوه؛ په کنددهار کي د پښتو خود آموز (لار ښود) د لیکلو ضرورت پیښ شو، د دې کار له پاره یوه ډله وټاکله شوه چي د استاد برخه تر ټولو نه پکي درنده وه او د دوي په ګډ زیار دوه ټوکه معلم پشتو په ۱۳۱۲هـ ش کال تهیه او چاپ سو.
په ۱۳۱۷هـ ش کال کي استاد د پښتو اصطلاحاتو د وضعي او جوړولو په باب هم یوه رساله ولیکله چي د طلوع افغان په کالنۍ کي خپره شوه، په دې رساله کي علم الاشتقاق او ژبپوهني په رڼا کي په دې بحث وشو چي په پښتو کي د ضرورت وړ لغتونه څنګه وضع او جوړ شي.
پوهاند حبیبي له اروابناد لعل محمد کاکړ سره په ګډ زیار په ۱۳۱۸ هـ ش کال د سپیڅلي پښتو په نامه د پښتو د لس زره لغتونو یوه ډکشنري ولیکله چي استاد د ګرامر ژبي او لغت په موضوع کي یوه درنه علمي او مفصله سریزه هم پرې وکښله.
په ۱۳۲۵ هـ ش کال يې د ډارمستتر پښتو څېړني د ښاغلو رښتیا او بینوا په ګډ زیار په پښتو ترجمه کړې او ځاي پر ځاي يې عالمانه حاشیې پرې ولیکلې.
استاد حبیبي د ژب څېړني د هڅو په لړ کي په ۱۳٤۲ هـ ش کال د بغلان د سره کوتل په ډېر لیک باندي د "مادر زبان دري" په نامه یو کتاب ولیکه او د دې ډېر لیک ژبه يې د ژبنیو موازینو او معاییرو په رڼا کي وڅېړله او په دې کوشاني ژبي کتیبه کي يې د پښتو او دري ډېري نخښي او بیلګي وموندلې.
"پښتو د تاریخ او لغت په رڼا کي" د استاد یوه کوچنۍ رساله ده چي په ۱۳٤۷هـ ش کال يې کښلې او د ژبپوهني په رڼا کي يې د پښتو ژبي خصوصیات او ځانګړني پکي ښودلي دي.
"د پښتو ژبي او ادب موقف د مرکزي ایشیا خلکو په تمدنو کي" د استاد یو شور انګیز ژبني تحقیق ؤ چي په ۱۳٤۵ هـ ش کال يې د پښتو څېړونو د مرکز په سیمینار کي واوراوه، دا سیمینار په کابل کي جوړ شوي ؤ او د نړۍ نامتو مستشرقین لکه استاد مارګنسټرنه، ډاکټر میکنزي، شارل کیفر او نور ورته راغلي ؤو؛ په دې سیمنار کي پر دې څېړنه تاوده بحثونه او اوږدې علمه شخړې وشوې، ده په دې څېړنه کي لومړی ځل نظر ورکړ چه پښتو نه له هندي ژبو نه ده او نه له ایراني بلکه دا دواړو ډلو آریایي ژبو د منځ او پیوستون

یوه کړې ده او په دې برخه کې یې تاریخي، ادبي، د لرغون پوهنې او ژبپوهنې په رڼا که علمي دلایل وړاندې کړل.

پوهاند حبیبي د افغانستان او منطقې په زړو ژبو کې ژوره مطالعه درلوده، د اوستا او سنسکریت متون یې لوستي وو، د پهلوي او زړې پاړسي مطالعه یې کړې وه او د دې سیمې نورې لویې او وړې، نوې او زړې ژبې یې په خپلو څېړنو کې د مقایسې او پرتلنې له پاره وړاندې کولې.

مطلب دا چې استا د خپلو ژبنیو څېړنو په وسیله په دې برخه کې زیارونه وګالل، نوې لارې یې پرانستلې او د راتلونکو ژبنیو څېړنو له پاره یې له ازغو ډکه لاره صافه او هواره کړه.

# استاد د ادبي نقاد او انتقادي متنونو د تهیه کونکي په حیث

استاد حبیبي د طلوع افغان د درنې جریدې د چلولو تر څنګ د کار په هماغه لومړینو پوړیو کې د ادبي نقد چار ته هم لاس اوږد کړ او هم یې د پښتو د کلاسیکو آثارو د انتقادي متنونو په برابرولو لاس پورې کړ.

په ۱۳۲٤ هـ ش کال یې په طلوع افغان کې د پښتو ادبیاتو تاریخچې په لیکلو سره دا کار په بشپړ قوت پیل کړ او د وخت په نشوتو موادو کې یې د پښتو ادب په باب دومره څه را غونډ کړل چې د راتلونکو ادبي کارونو له پاره بنسټ شول.

په ۱۳۱٦هـ ش کال یې د کندهار د مطبعې په ضیقو شرایطو او ډېرو لږو امکاناتو کې د خوشحال خان خټک د کلیات انتقادي متن د چاپ له پاره تهیه او تر زر مخه زیات کتاب یې په همدې مطبعه کې چې متن یې د طلوع افغان د خطاط سید حسین به قلم خطاطي شوي ؤ چاپ کړ. په دې دیوان یې یوه اوږده علمي تحقیقي او انتقادي هر اړخیزه مقدمه هم ولیکله او ورپسې ئې یو کال وروسته د نومیالي پلار د خوږ ژبي زوی عبدالقادر خان خټک دیوان همهغه ډول خپور کړ.

استاد چې کابل ته راغي کابل ته په راتلو سره یې د پښتو سبکونو تاریخچه ولیکله چې د ۱۳۱۹هـ ش کال په کابل کالنۍ کې خپره شوه. په ۱۳۲۰هـ ش کال یې د لوي احمد شاه بابا دیوان له یوې مفصلې تحقیقي او انتقادي مقدمې سره خپور کړ.

په ۱۳۲۰هـ ش کال یې په ''پښتانه شعراء'' کې د پښتو د سلو تنو پخوانو پښتنو شاعرانو پیژند داسې وخت نشر کړه چه زړې تذکرې لکه پټه خزانه لا نه وې تر لاسه شوي او نوې تذکرې لیکل لا دود نه وو.

استاد دا وخت د نړي د ادبیاتو هم ښه مطالعه کړې وه او د ادبیات جهان رساله یې لیکلې وه.

پوهاند حبيبي د خپلو نه ستړي کېدونکو هڅو په لړ کي لومړي د سليمان ماکو ''تذکرة الاولياء'' د هلمند له يوه زاړه جومات نه وموندده چي په ۱۳۱۹ش کال یې په کابل کالنۍ ، په ۱۳۲۰ ش کال يې په پښتانه شعراء کي خپره کړه او په ۱۳۶۱ش کال ځانګړې نشر شوه؛ بيا يې د محمد هوتک پټه خزانه له کوټي څخه بياموندله او نه ۱۳۲۳ ش کال يې له مفصلي مقدمې، علمي تعليقاتو، ترجمې او حاشيو سره خپره کړه چي بيا په وارو، وارو نشر شوه.

استاد د خپلو اوږدو څېړنو په نتيجه کي د پښتو ادبياتو د تاريخ لومړي ټوک وکيښ چي څو څو واره چاپ سو، د دې کتاب دوهم ټوک يې هم وليکه چي بشپړ متن يې دوهم ځل په کابل کي خپور شو او د کتاب دوهم او دريم ټوکونه يې د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي له پاره د درسي نوټ په ټوګه وليکل.

مطلب دا چي استاد د ادب، ادبي نقد او ادبي څېړنو په سلسله کي اوږده او پراخ کارونه وکړل، پاخه او علمي تاداوونه يې کښېودل او په دې باب يې سوونو مقالې په راډيو او خپرونو کي نشر کړې.

# استاد د تصوف پوه په حيث

د اسلامي، خراساني او افغاني تصوغ مطالعه د استاد د کار او مصروفيت بله ساحه وه، ده په دې برخه کي هم ژوره مطالعه درلوده. تصوفي لارې او مکتبونه يې څېړلي وو او ډېر تصوفي متونونه يې د چاپ له پاره تهيه او د سريزې او حاشيو په وسيله يې آسان کړي وو.

استاد په دې سلسله کي د ''جوانمدان و عياران'' رساله ليکلې وه د ''تصوف'' کتاب يې تاليف کړی ؤ او د تصوفي متونو په سلسله کي يې د خواجه عندالله انصاري ''طبقات الصوفيه'' او ''صد ميدان'' د سردار مهردل خان مشرقي ''شرح بيتين مثنوي'' او ځيني نور متنونه تهيه کړي او د بايزيد روښان پير پر ''خير البيان'' يې جامعه سريزه کښلې وه او په دې سربيره يې په لسهاؤ پخې مقالې پر صوفيانو او تصوف ليکلي وې چي په اسلامي او شرقي تصوف کي د ده د وسيحو او جامعو معلوماتو ښکارندوني او څرګندوني کوي.

# استاد د فوکلور پوه په حيث

استاد د افغانانو د فوکلور، کلتور او وګړ پوهني په برخه کي هم ښه ژوره او پخه مطالعه درلوده، د دوي پر اولسي ادبياتو يې خوږې تحليلي څېړني کړي، د پښتونولۍ اساسات او بنستونه يې څېړلي او د اوسلي ادبياتو، د ودونو او عنعناتو په رڼا کي يې خپل ادبي، تاريخي، او ژبني تحقيقونه پاخه کړي او د اولس له پوهي سره تړلي دئ چي په دې لاره کي يې هم زياتي مقالې او رسالې خپرې شوي دي.

# لوي استاد د سترګور مؤرخ په حیث

د هیواد له تاریخ سره مینه د استاد د څېړني او علمي فعالیت یو بل اړخ دي، ده له هماغه لومړنیو مطالعاتو سره د افغانستان او ورسره د منطقې او ګاونډیو هېوادو د تاریخ مطالعه هم پیل کړه او په دې برخه کي یې په تحقیق او څېړنه هم ګوتي پوري کړې؛ په لږ وخت کي د یوه پاخه او سترګور مؤرخ په توګه را منځ ته شو، د تاریخ نوي څنډې یې روښانه کړې، له پټو ګوښونه یې پلو واخیست او ابتکاري څېړني یې وکړې.

لوي استاد د خپلو څېړنو په دوران کي ځیني مهم تاریخي متنونه هم را برسیره کړل، سریزي یې پرې ولیکلې، سموني یې پکي وکړې، لمني او نښلوني یې ورته وکړې او ه بشپړ ډول یې نشر کړل.

په دې برخه کي د لوي استاد لومړني کار د حمید کشمیري د اکبر نامې د متن مقابله، سمونه او چاپ ته برابرونه وه چي په ۱۳۰۹ش کال کي یې تر سره کړه خو دا متن تر اوسه ناچاپ پاتي دئ.

"تر احمد شاه وړاندي د ابدالیانو مشاهیر" د استاد یوه مهمه تاریخي څېړنه ده چي د ۱۳۲۲ش په کابل کالني کي نشر شوه.

"تاریخ افغانستان در عصر کورګانیان هند" د استاد یو مغتنم تحقیق دي چي د هندي مغولو په دوره کي د دوی په واک کي افغانستان معرفي کوي؛ دا اثر په ۱۳۲۳ش کال کښل شوي او په ۱۳۴۲ش کال د افغانستان تاریخ ټولني خپور کړي دي.

استاد د قاضي منهاج سراج جوزجاني "طبقات ناصري" په دوو ټوکونو کي چاپ ته چمتو کړ، مقدمه، حاشیې او تعلیقات یې پرې وکښل او دوه ځل خپور شو.

ده "د پښتو نومورکي مؤرخین" رساله ولیکله او پاکستان ته د رامهاجر کیدلو په دوران کي یې د ملتان په لودي شاهي کورنۍ باندي یو اردو کتاب تالیف او چاپ کړ.

پوهاند حبیبي د افغانستان د لومړنیو دوو اسلامي پېړیو تاریخ په یو زر مخونو کي لیک او خپور کړ چي د نهو پاتي ټوکونو مواد یې خواره واره روسره پاتي شول او که دا تاریخ بشپړ شوي واي لس زره مخه مهم تاریخي کتاب به ترې جوړ شوي ؤ.

همدا راز "پښتو و لویکان غزنه" د استاد یو تاریخي او ادبي ابتکاري تحقیق دي.

استاد د تاریخ او د تاریخ د لارښود په سلسله کي د غزنویانو د دورې ورک شوي کتابونه، یو ټوک رهنماي تاریخ افغانستان، دوه ټوکه د افغانستان لنډ تاریخ، د افغانستان تاریخي پیښلیک او نور زیات کتابونه تالیف کړل.

همدا راز استاد د تاریخ یوه پانه راډیویي خپرونه څو کاله پر له پسې په پښتو او دري ژبو له راډیو افغانستان څخه په خپل غږ کي نشر کړه.

په لنډ ډول ویلای سو چې استاد د افغانستان د اسلامي دورې او د منطقې د اسلامي هېوادونو د دې دورې د تاریخ متخصص او دومره پکې وارد ؤ چې مآخذ او اسناد یې په یادو ورته یاد وو او د دې دورې په تاریخ کې یې ډېر نوي ټکي او نوي اسرار او رموز را بر سیره کړل.

## استاد د تاریخي جغرافیا د پوهاند په حیث

پوهاند حبیبي د تاریخ تر څنګ د هیواد او منطقې په تاریخي جغرافیا کې هم لوي لاس درلود؛ د هرې دورې جغرافي ویشونه، نومونه او له نن سره یې ورته تطبیقول د ژبپوهنې او لرغون پوهنې په مرسته په ډېره آسانۍ تر سره کول او مهم او غوره مواد یې را منځ ته کولای شول.

ده په دې لاره کې مقالې ولیکلې، تحقیقونه یې وکړل، زاړه متونونه یې تصحیح او تنقیح کړل او بشپړ کتابونه یې را منځ ته کړل. ''زرنج و احوال تاریخي آن'' په دې برخه کې د دوئ یو تحقیقي اثر دئ. ''جغرافیا تاریخي افغانستان'' د دوي یو مهم کتاب دي چې برخه، برخه چاپ شوي دي. ''زین الاخبار گردیزي'' یو لرغوني جغرافي متن دي چه د استاد له عالمانه سریزي او تشریحاتو سره نشر شوي دي.

استاد په خپلو آثارو کې د افغانستان او منطقې د تاریخي جغرافیا ګټوري نقشې او خریطې تیاري کړې او د سیمو تاریخي نومونه یې له اوسنیو نومو سره تطبیق او انډول کړي دي.

## استاد د کتاب پوه په حیث

کتاب پیژندنه د استاد یو بل مصروفیت ؤ، د نسخو په لټون پسې یې بې شمېره ځل پښتې تڼاکي کړې وې او د سلیمان ماکو خبره کله به یې چې د پښنو تڼاکي وچاودې بیا به یې دا نسخې لوستلې، اړولې را اړولې او نوي تاریخي ادبي او علمي نکتې به یې ترې را بر سیره کولې.

د نمونې په توګه د کرامات سخي سرور له یوه زاړه او نیمګړي کتاب نه یې د خلجیه ژبې (غلجي پښتو) د یوه بیت په تر لاسه کولو سره د غزني د لویکانو تاریخي شاهي کورنۍ کشف کړه او یو بشپړ اثر یې پرې لیک کړ او هم یې په کتاب پیژندنه کې بې شمېره مقالې او پاخه کتابونه ولیکل چې د یو ټوک ''رهنماي تاریخ افغانستان'' او د ''هنر عصر تیموریان'' تر زر مخونو زیات کتاب یې د خاصې یادونې وړ دي.

# استاد د سیاست پوه په حیث

استاد حبیبي د عصري کتابونو له لاري له معاصرو سیاسي مکتبونو سره ځان ښه اشنا کړي ؤ او د اخبار د چلوونکي او د پېښو د علاقمند په صفت یې تر نیمه پیړۍ زیات د جهان عملي سیاست مطالعه کړي او د افغانستان او منطقې د سیاسي تاریخ بابونه یې په مخه کي پرانستي وو.

استاد په دې برخه کي د افغانسان د سیاسي بیدارۍ تاریخچه (په پېښور کي د آزاد افغانستان چاپ) او د افغانستان دوه ټوکه سیاسي تاریخ کښلي وو.

د وطن له ترقۍ او پرمختګ سره میني یو وخت استاد دې ته اړیوست چي په خپله هم عملاً سیاست ته ور دننه شي. په ۱۳۲۶ش کال په افغانستان کي د ویښ زلمیان په نوم یوه ملي سیاسي ډله جوړه شوه، استاد هم له دې ډلي سره تړون وکړ او د همدې ډلي د اهدافو د تر سره کولو له پاره په ۱۳۲۷ش کال د کندهار د خلکو له خوا په اولسي جرګه کي د وکیل په جیث وټاکل شو؛ ده د خپل ملي هدف له مخي جدي پیګیره او بنستېزه مبارزه پیل کړه او د افغانستان د ژر او ژور بدلون او پرمختګ ښې هیلي یې درلودي، له هیمدې امله د ملي غوښتنو په سر د شورئ په یوه غونډه کي د وخت له صدراعظم شاه محمود خان سره تونډ ولاړ او ژور لفظي ټکر یې ور سره وشو، دولت د ده د نیولو په لټه کي شو او د ظالم او مستبد حکومت له خوا د سر خطر ورته پیدا شو، دي مخکي له دې چي ونیول شي د ننګرهار له لاري پاکستان ته را مهاجر شو او سیاسي پناه یې واخیستله، استاد دلته لومړي ځل د افغانستان له پاره د جمهوریت غږ پورته کړ، یوه جمهوري ډله یې جوړه کړه او نشرات یې پیل کړل، دهٔ د افغانستان له مستبد دولت سره مبارزه درلوده او د هغه په ځاي یې د افغانستان د قهرمان ملت له پاره جمهوریت غوښت لیکن د هغې وخت پاکستاني واکدارنو له ده نه نور توقعات درلودل او د افغانستان د ملت او ملي مقدساتو په مقابل کي یې د ده درول غوښتل خو ده دا کار نشو کولاي نو دلته هم مغضوب شو او د ژوند سختي مرحلي یې تیري کړې چي بیا بیرته جبراً افغانستان ته ولاړ او هلته په علمي چارو بوخت شو.

شهید میونوال د استاد مهاجرت په وخت کي په پاکستان کي د افغانستان لوي سفیر ؤ او له دهٔ سره یې د ده په بیرته تګ کي زیاته رشته کړې وه، کله چي نوموړي صدراعظم شو او د قدرت په وخت کي یې ګوند جوړ کړ، دهٔ ته یې هم بلنه ورکړه او دي د دوستي په پاس یو ځل بیا سیاست ته دننه شو، د ښاغلي میوندوال د صدراعظمي له ختمیدلو سره ډېر اپارچونست کستان له ده نه بیرته ولاړل، خو استاد له څو محدود کستانو سره ډېر کلونه نور هم ور سره پاتي او وفادار پاتي شو. د ظاهر شاهۍ په وروستو کلونو کي د ایډیالوژیک ټکر په اثر دي او د ده ملګري له دې ګوند نه ګوښه شول او له سیاست نه لري یې خپلو علمي خدماتو ته دوام ورکړ.

کله چه پر افغانستان باندي بې دينه او وطن فروش خلقيان مسلط شول او بيا پر افغانستان د روسانو تېري وشو استاد چي دې پېښو ناروغ کړې ؤ او وخت په وخت به د زړه حملې پرې راتللې فقط خپل علمي کار ته دوام ورکر، خلقيانو هڅه کوله چي له ده نه سياسي بهره برداري وکړي خو دی حاضر نه شو، حتي يو وخت د پرچميانو له خوا په فريب د پلار وطني جبهي لومړني غونډې ته بوتلل شو او هلته د دې جبهې د جوړيدو په باب کمونستانو له خوا مصنوعي راي گيري کيدله او د تلويزيون له پاره يې فلم ډکيده، د راي گيرئ په وخت کي د مخالفي رايي په توگه يو لاس پورته شو، دا لاس د استاد لاس ؤ او دا افغانستان د وحشي کمونستانو په تاريخ کي لومړی لاس ؤ چي د دوي په يوه مجلس کي په مخالفت پورته شوي ؤ، استاد دا جعلي پلار وطنه جبهه ترک کړه او د خپلي ملي اسلامي عقيدې د ساتلو په خاطر يې هري قرباني ته ملا وتړله، د ده د دې عمل له امله د راي گيرئ صحنه په تلويزيون کي و نه ښودله شوه خو کمونستانو د ده په ضد کوم اقدام و نه کړ او ښايي د ده د سن په تقاضا او د ده د سختي ناروغئ له امله به يې د ده د نيولو نام بدئ ته غاړه نه وي ايښې.

# استاد په سيمينارونو کي

کله به چي په افغانستان او منطقه کي تاريخي، د تاريخي اشخاصو او پېښو په باب سيمينارونه يا د استاد په اصطلاح "څېړن غونډې" کېدلې نو استاد حبيبي به د دې سيمينارونو په علمي غونډو کي معمولاً د مشر او رئيس دنده درلوده او په خپلو علمي او پخو خبرو به يې په علمي بحثونو کي قضاوت او حکميت کاوه او د غونډې د پوهانو علمي شخړي به يې د عقلي او نقلي دليلونو په رڼا کي په پاخه منطق سره پريکولې.

استاد به د هر سيمينار په موضوع کي دومره ځان وارد کړي ؤ چي سړي به فکر کاوه چه د استاد د تخصص موضوع همدا سيمينار دئ او هم به يې په هر سيمينار کي د خپلي علمي مقالې په ترڅ کي د سيمينار په موضوع داسي رڼا اچوله چي د موضوع ډېر تياره گوټونه به يې روښانه او ډېري معماوي به يې ؤسپيړلې.

# د استاد بڼه او ژوند بڼه

استاد ميانه ونه درلوده، په رووستي عمر کي يې د سر ويښته شناوي (مي وريژي) وو او تر اينچ زيات اوږديدلو ته يې نه پريښودل، سترگي يې ځيرې او دقيقي وې، تندي يې پراخه، پزه يې له مخ سره مناسبه،

شونډي يې نرۍ او مخ يې ډېري لږي ګونځې پيدا کړي وې، غوږونه يې تر پايه ډېر ښه اورېدل، حافظه يې په ځاي وه، د سترګو د ليري ځير يې عادي ؤ او د ليک لوست له پاره به يې نومره داري عينکې استعمالولې.

استاد حبيبي ساده ژوند درلود، ساده خو پاک او سپېڅلي لباس به يې اغوستې ؤ، په رسمي دفتر او محافلو کې به يې په دريشي کې د ارتو پايڅو پتلون اغوسته او سر به يې لوڅ ؤ و په کورکې به يې د خوب دريشي اغوسته يوه د هونو ګلداره خولۍ به يې په سر وه او پټو به يې تر ځان تاو کړي ؤ.

د استاد خبري خوږې او له خوږو او انتباهي ادبي ټوکو او ظرافتونو څخه ډکې وې، په صحبتونو او مرکوکې متواضع متبسم او صميمي ؤ، بحثونه به يې خواږه، ادا به يې خوندوره، او مرکې به يې په تاريخي تمثيلاتو او يا په خپلو سترګو ليدلو کيسو او ښېښنو ولاړې وې، داسې خوږ مجلس به يې کاه چې په ساعتونو ساعتونو به د سړي زړه نه کېده چه ترې بيل شي او کله به چې سړی د استاد له مجلس نه را پاڅيد په معلوماتوکې به يې پوره او بشپړه اضافه شوې وه او ډېره څه به يې ترې زده کړې وو، د استاد حافظه ډېره قوي وه او خپلې د ژوند خاطرې به يې له بشپړو جزئياتو سره بيانولې.

استاد حبيبي د امراو اداره چې په حيث په اداره کې سختګير او قانوني سړی ؤ، په پېژندګلوۍ او د دوستانه کې ډېر جوش خو په پاللوکې يې ډېر صميني او وفادار ؤ، کور ته به چې ورغلي ور به يې په څپله درته پرانست، چاي به يې په خپله درته اچاوه او په پاي کې به په زهير صورت تر وره پورې در سره روان ؤ.

استاد به ماسپښين مل هره ورځ پنځلس دقيقې حتماً خوب کاوه، د ورځې به يو، يو نيم ساعت پلې ګرځېده، د ژوند په وروستينو وختونوکې يې ويل چې تنها مطالعه مې نشي بوختولي څو شې و نه ليکم، له همدې کبله به تل د ميز تر شا ناست او په څه ليکلو به بوخت ؤ.

شاعرانه ذوق د ژوند تر پايه ور سره ؤ، له نفيسو شيانو سره يې ډېره مينه وه، ښکلې تسبيح به يې تل په لاس کې وې، نفيس هنري قلمي او مطبوع آثار به يې د خپلې خوني په الماریکې د ننداري په توګه اېښې وو، د استاد د څوارلسم د سپوږمۍ ننداره ډېره خوښه وه او ويل به يې کله چې له يوې خوا شپينه سپوږمۍ او له بلې خوا مځکه په سپينه واوره پټه وي، په داسې حالت کې مې دباندې ګرځېدل ډېر خوښېږي.

# د استاد وروستي ژوند او وفات

استاد لس دولس کاله وړاندي د ژوند له ډېرو پيچومو او کړاوو څخه په را تېريدلو سره ناروغه شو، د زړه ناروغي ورته پيدا شوه خو ناروغي يې ډېره خفيفه وه او د ډاکټر د هداياتو د تطبيق له امله يې د ناروغۍ د پرمختګ مخه نيول شوي او تر بشپړ کنټرول لاندي وه خو کله چې په ۱۳۵۷ش کال په افغانستان کې د خلقيانو خونړۍ کودتا وشوه پر استاد باندي د هېواد ورانۍ او بربادۍ سخت فشار راوست، دی د خپل تاريخي او سياسي بصيرت په رڼا کې پوه ؤ چې څه به کيږي او د افغانستان پر تاريخي او سر لوړي وطن

به چې د ده ورسره ډېره مينه وه څه راځي؟ همدې فکرونو او سوداګانو د ده د زړه د ناروغۍ چپې زياتې کړې، له هر څومره پرهيز او مراقبت سره سره يې ناروغي کنترول نه شوه، ورځ په ورځ زياته شوه، څو ځلې د زړه مرګوني حملې پرې راغلې خو خداي به بچ کړ؟ ده به ويل زه نه د تېښتې پښې لرم او نه د دې حالاتو د زغملو توان! او همدې درانه کشمکش به د ده په زړه درانه فشارونه راوړل څو د ۱۹۸٤ کال د مې په نهمه نېټه چې د ۱۳٦۳ ش کال د ثور له نولسمې نېټې او د ۱٤۰٤ هـ ق کال د رجب له اومې نېټې سره سمه وه د زړه د ناروغۍ وروستنۍ درنې حملې د چار شنبې د ورځې د مازيګر په څلورو بجو د ده ژوند ته خاتمه ورکړه او د تل له پاره يې له دې نابودې او ستړې دنيا څخه سترګې پټې کړې، جنتونه يې دې نصيب او ياد يې دې جاويدان او تل پاتې وي!

# دوهمه برخه
# د استاد لنډ ژوند لیک
# او
# کتاب ښود یادګیرنه

په تیره برخه کي د لوي استاد پوهاند حبیبي د ژوند په بیلا بیلو اړخونو رڼا واچوله شوه او د دوي د ژوند بیلا بېل ابعاد په کرونو لوژیک او مرتب ډول وړاندي شول خو د دې له پاره چي په لنډ ډول د ده د ژوند له یو لړ رسمي کارونو، په سیمینارونو کي د ده له برخي اخیستني او د ده د آثارو له منظم کتاب ښود سره آشنا سو په دریو برخو کي لومړی د ده ژوند لیک بیا د هغو سیمینارونو لست چي دوي پکي برخه درلوده او په پاي کي د دوي له آثارو لنډ کتاب ښود راوړو.

## (۱) د استاد ژوند لیک

ـ د ۱۳۲۸ هـ ق کال د دوهمي خور (ربیع الثاني) په ۱۷ نیټه، د ۱۹۱۰ ع مئ او د ۱۲۸۹ هـ ش کال ثور، د کندهار د بامیزو په کوڅه کي وزیږید،
ـ په ۱۲۹۹ لمریځ کال (۱۹۲۰ ع) کي د کندهار د شالمار په لومړني ښونځي کي شامل سو،
ـ په ۱۳۰٤ لمریځ کال (۱۹۲۵ ع) که یې د لومړني ښوونځي بري لیک تر لاسه کړ،
ـ له ۱۳۰٤لمریځ کال نه تر ۱۳۰٦ هـ ش کال (۱۹۲۷ع) کال پوري یې په کندهار کي د یوه لومړني ښونځي د ښوونکي په حیث دولتي ماموریت وکړ.
ـ په ۱۳۰٦ هـ ش کال د کندهار د طلوع افغان د جریدې مرستیال وټاکل شو چي تر ۱۳۱۰ هـ ش (۱۹۳۱ ع) کال پوري یې دا وظیفه په غاړه وه،
ـ په ۱۳۱۰هـ ش کال د طلوع افغان د جریدي مسئول چلووکي شو،
ـ په ۱۳۱۱هـ ش کال (۱۹۳۲ع) کي یې د طلوع افغان جریده ټوله په پښتو ژبه نشر کړه چي دا د افغانستان لومړنۍ پښتو خپرونه وه او دا جریده یې تر ۱۳۱۹هـ ش کال (۱۹٤۰ ع) پوري وچلوله،
ـ له ۱۳۱۹ تر ۱۳۲۰ هـ ش کال (۱۹٤۰-۱۹٤۱ ع) پوري په کابل کي د پښتو ټولني مشر وو،

ـ له ۱۳۲۰ تر ۱۳۲۳ هـ ش کال (۱۳٤۱-۱۳٤٤ ع) پوري په کابل کي د پوهني وزارت مشاور ؤ،
ـ له ۱۳۲۳ تر ۱۳۲۵ هـ ش (۱۹٤٤-۱۹٤٦ ع) کال پوري د ادبیاتو پوهنځي لومړنی مؤسس رئیس او ورسره د پښتو ټولني مشر او د پښتو ادبیاتو د تاریخ استاد ؤ،
ـ له ۱۳۲۵ تر ۱۳۲٦ هـ ش (۱۹٤٦-۱۹٤۷ ع) د کندهار ولایت د پوهني د اداري رئیس ؤ،
ـ په ۱۳۲٦ هـ ش کال په چمن کي د افغاني وکیل التجار په توگه په کار بوخت ؤ،
ـ له ۱۳۲۷ تر ۱۳۳۰ هـ ش (۱۹٤۸-۱۹۵۱ ع) کال پوري په اوسلي جرگه کي د کندهار د خلکو له خوا ټاکل شوي نماینده او وکیل ؤ،
ـ له ۱۳۲۹ تر ۱۳٤۰ هـ ش (۱۹۵۰-۱۹٦۰) کال پوري په پاکستان کي سیاسي پناهنده ؤ،
ـ د ۱۳٤۰ هـ ش کال د میزان په ۱٦ نیټه بیرته خپل هېواد ته را ستون او د تاریخ پولني علمي غړي شو،
ـ په ۱۳٤٤ هـ ش (۱۹٦۵ ع) کال کي په کابل پوهنتون کي د پوهاند په علمي رتبه د ادبیاتو د پوهنځي استاد وټاکل شو،
ـ په ۱۳٤۵ هـ ش (۱۹٦٦ ع) کا کي د پوهنتون پر استادۍ سربیره د تاریخ ټولني د رئیس په حیث وټاکل شو،
ـ په ۱۳۵۱ هـ ش (۱۹۷۲ ع) کال کي په صدارت کي د صدراعظم (محمد موسٰي شفیق) د فرهنگي چارو مشاور په حیث مقرر شو،
-ـ په ۱۳۵۲ هـ ش (۱۹۷۳ ع) کال کي د پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي استادي ور وسپارله شوه،
ـ په ۱۳۵۷ هـ ش (۱۹۷۸ ع) کال کي د ادبیاتو په پوهنځي کي د ماسترۍ د دورې استاد وټاکل شو،
ـ په ۱۳۵۸ هـ ش (۱۹۷۹ ع) کال کي د افغانستان د علومو اکیډمي علمي مشاور ؤ،
ـ په ۱۳۵۹ هـ ش (۱۹۸۰ ع) کال کي د اطلاعاتو او کلتور وزارت علمي مشاور وټاکل سو،
ـ استاد په ورستیو شلو کلونو کي د رسمي چارو تر څنگ د افغانستان د ټولو علمي مؤسسو د علمي مجلسونو غړي او د زیاتر علمي مجلو قلمي همکار ؤ، د لیکوالي ډلي مشر او غري ؤ،
ـ همدا راز استاد د کار په لمړۍ دوره کي د پوهني دوهمه درجه او د رښتین طلایي مدالونه اخیستي دي،
ـ پوهاند حبیبي تر یاد شوي مشمر علمي ژوند وروسته د ۱۳٦۳ هـ ش کال د ثور په ۲۰ نیټه چي د ۱٤۰٤ هـ ق د رجب المرجب له ۷ نیټې او د ۱۹۸٤ ع کال د مي له نهمي نیټې سره سمه وه حق ته واصل او په ابدي خوب ویده شو.

اِنّاللّٰه و اِنّا اِلَیهِ رَاجِعُونَ

# (۲) په سیمینارونو کي برخه

لوئ استاد په زیاتو علمي نړیوالو او ملي سیمینارونو کي برخه اخیستې وه چي ځیني مهم، سیمینارونه بې دا دي:

۱ـ په ۱۳۲۵ هـ ش (۱۹٤٦ع) کال کي د تاشکند د پوهنتون د پنځه ویشت کلنۍ په مراسمو کي گډون.

۲ـ په ۱۳۲٦ هـ ش (۱۹٤۷ع) کال کي په ډیلي کي د افغانستان د کلتوري هیأت غړي.

۳ـ په ۱۳۳٦ هـ ش (۱۹٥۷ع) کال کي د لاهور د اورینټل کانفرانس غړي.

٤ـ په ۱۳٤۱ هـ ش (۱۹٦۲ع) کال کي په کابل کي د خواجه عبدالله انصاري د یادوني د علمي مجلس غړي.

٥ـ په ۱۳٤۳ هـ ش (۱۹٦٤ع) کال کي د تاجکستان په دوشنبه کي د مولانا عبدالرحمن جامي د یادوني د غونډې غړي.

٦ـ په ۱۳٤٥ هـ ش (۱۹٦٦ع) کال په تهران کي د ایران پیژندني د کنفرانس غړي.

۷ـ په ۱۳٤٥ هـ ش (۱۹٦٦ع) کال په کابل کي د ترجمې د سیمینار رئیس.

۸ـ په ۱۳٤٦ هـ ش (۱۹٦۷ع) کال په کابل کي د خطي نسخو د کانفرانس رئیس.

۹ـ په ۱۳٤۷ هـ ش (۱۹٦۸ع) کال د تاجکستان په دوشنبه کي د کوشانیانو د کنفرانس غړي.

۱۰ـ په ۱۳٤۸ هـ ش (۱۹٦۹ ع) کال کي د اوزبکستان په ثمرقند کي د هنر تیموریان د سمپوزیم غړي.

۱۱ـ به ۱۳٤۸ هـ ش (۱۹٦۹ع) کال په تهران او تبریز کي د خواجه رشید الدین فضل الله د یادوني د غونډي غړي.

۱۲ـ په ۱۳٤۹ هـ ش (۱۹۷۰ع) کال په کابل کي د کوشانیاو د نړیوال سیمینار رئیس.

۱۳ـ په ۱۳٤۹ هـ ش (۱۹۷۰ ع) کال کي د مشهد په پوهنتون کي د شیخ طوسي د زرمي کلیزي د غونډې غړي.

۱٤ـ په ۱۳٥۰ هـ ش (۱۹۷۱ع) په ډهلي کي د البیروني د زیږیدو د زرمي کلیزي د غونډې غړي.

۱٥ـ په ۱۳٥۱ هـ ش (۱۹۷۲ع) کال په آگره کي د فتح پور سیکري د سیمینار غړي.

۱٦ـ د ۱۳٥۲ هـ ش کال جوزا (د ۱۹۷۳ع کال جون) په کابل کي د البیروني د زرکلنۍ د غونډې رئیس.

۱۷ـ د ۱۳٥۳ هـ ش کال تله (د ۱۹۷٤ ع کال اکتوبر) په کابل کي د مولوي بلخي د لمانځني د نړیوال غونډې غړي.

۱۸ـ د ۱۳۵۳ هـ ش کال مرغومي (د ۱۹۷۵ ع کال جنوري) په کابل کي د بايزيد روښان د نړيوال سيمينار غړي.
۱۹ـ د ۱۳۵۳ هـ ش کال کب ( د ۱۹۷۵ ع کال مارچ) په کابل کي د امير خسرو د بين المللي غونډي غړي.
۲۰ـ د ۱۳۵٤ هـ ش کال تله (د ۱۹۷۵ کال اکتوبر) په کابل کي د ابو نصر فارابي د لمانځني د نړيوال غونډي غړي.
۲۱ـ په ۱۳۵٤ هـ ش (۱۹۷۵ ع ) کال په تهران کي د منځنۍ آسيا د ژبو او ادبياتو به باب د يونسکو د نړيوالل غونډي غړي.
۲۲ـ د ۱۳۵٤ هـ ش کال مرغومي (د ۱۹۷٦ ع کال جنوري) په کابل کي د دقيقي بلخي د مريني د زرم کال د نړيوال غونډي غړي.
۲۳ـ په ۱۳۵٤ هـ ش (۱۹۷۵ ع) کال په ډلي کي د امير خسرو د درناوي د نړيوالي غونډي غړي.
۲٤ـ د ۱۳۵٤ هـ ش (۱۹۷٦ ع) کال مرغومي په کابل کي د پښتو څېړونو د نړيوال مرکز د نړيوال سيمينار غړي.
۲۵ـ د ۱۳۵۵ هـ ش کال د ثور نهمه (د ۱۹۷٦ ع کال د اپريل ۲۷) په کابل کي د خواجه عبدالله انصاري د زيږيدو د زرمي کليزي د درناوي د څېړن غونډي غړي.
۲٦ـ د ۱۳۵۵ هـ ش کال کب (د ۱۹۷۷ع) کال مارچ په کابل کي د سيد جمال الدين افغاني د سيمينار غړي.
۲۷ـ د ۱۳۵٦ هـ ش کال زمري (د ۱۹۷۷ ع کال اگست) په کابل کي د پښتو چاپي آثارو د سيمينار غړي.
۲۸ـ په ۱۳۵٦ هـ ش (۱۹۷۷ ع) کال په کابل کي د کوشانيانو د نړيوال سيمينار غړي.
۲۹ـ په ۱۳۵۷ هـ ش (۱۹۷۸ ع) کال په کابل کي د حکيم سنايي غزنوي د نړيوال سيمينار غړي.
۳۰ـ په ۱۳۵۸ هـ ش (۹۷۹ع) کال په کابل کي د خوشحال خان خټک د مړيني د دري سوم تلين د سيمينار غړي.
۳۱ـ په ۱۳۵۹ هـ ش (۱۹۸۱ ع) کال په کابل کي د ميا فقرالله جلال آبادي د نړيوال سيمينار غړي.
۳۲ـ په ۱۳٦۰ هـ ش (۱۹۸۱ ع) کال په کابل کي د غلام محي الدين افغان د ملي سيمينار غړي.
۳۳ـ په ۱۳٦۰ هـ ش (۱۹۸۱ ع) کال په کابل کي د شيخ بستان بړيڅ د ملي سيمينار غړي.
۳٤ـ په ۱۳٦۰ هـ ش (ـ۹۸۱ع۹ کال په کابل کي د امير علي شير نوايي د ملي سيمينار غړي.
۳۵ـ په ۱۳٦۱هـ ش (۱۹۸۲ ع) کال په کابل کي د خالد برمکي د مړيني د دولس سوم تلين د ملي سيميانر غړي.

۳٦ـ په ۱۳٦۲هـ ش (۱۹۸۳ ع) کال په کابل کي د استاد الفت د يادوني د ملي سيمينار غړي.
په دې سربيره استاد په زيات شمير علمي محافلو، غونډو او ځېړن غونډو کي برخه درلودلې او عالمانه ويناوي يې اورولې او علمي رسالې يې وړاندي کړي دي.

# (۳) کتاب ښود

## اسماني نغمې او لاهوتي سرودونه

دا د استاد د هغو ادبي مقالو مجموعه ده چي تحقيقي بڼه هم لري خو په لوړه ادبي ژبه ليکلې شوې دي، په دې مجموعه کي اووه پښتو او دري مقالې راغلي، دا اثر د کابل او خراسان پر مجلو سربېره په ۱۵۰ مخونو کي په ۱۳٦۱ هـ ش کال په ځانگړي ډول هم د افغانستان د علومو اکيډمۍ خپور کړي دئ.

## ادبيات جهان

دا د نريوال ادبي سير، ادبي سبکونو او مکتوبونو او ادبي ابداعاتو په باب يوه مفصله ځېړنه ده چه ځيني مقالې يې په طلوع افغان کي خپرې شوې خو په ځانگړي کتابي بڼه لا نه دی خپور شوي.

## اشعار و ديوان تيمور شاه افغان

دا د احمد شاه بابا د زوي تيمور شاه دراني پر ژوند پيژندنه

دا کتاب ښود په الفبايي ترتيب جوړ شوي او د اضافت او ربط تورو ته هم رديفي ارزښت ورکړل شوي دي او ديوان ځېړنه ده. ما دا رساله نه ده ليدلې خو د استاد د ليکني له مخي په ۱۳۱۳ هـ ش کال په کابل کي خپره شوې ده.

## اصل خلجيان افغاني

په دې اثر کي د اسنادو په رڼا کي د ځيني محققينو د دې اشتباه ازاله شوې چي دوی خلجيان غلزيان او غلجيان ترکان گڼي. د استاد د ليکني له مخي دا اثر په ۱۳٤۹ هـ ش کال په تهران کي خپور شوي دي؛ ما يې نسخه نه ده ليدلې غالباً په کومه ايرانۍ مجله کي به خپور شوي وي.

## افغان در تاریخ

دا د افغان پر نامه باندي د استاد تحقیق دي چي په تاریخي سندونو او ډېرلیکونو کي د دې نامه سوابق ښيي او د یادوني قدامت یې د دریمي میلادي پېړۍ اواسطو ته رسوي، دا اثر په ځانګړي ډول نه دي خپور شوي خو په مقالو کي یې استاد برخه برخه مطلب راوړي دئ.

## افغانستان بعد از اسلام (جلد اول)

دا د استاد یو مهم تحقیق دئ چي په لومړیو دوو اسلامي پېړیو کي د افغانستان سیاسي، اجتماعي، کلتوري، اقتصادي او هر اړخېزه وضعه څېړي، لومړي ټوک یې تر زر مخه زیات دي چي لومړي ځل په ۱۳٤٥ ش کال د افغانستان تاریخ ټولني د کاتب الحروغ په اهتمام چاپ کړي، بیا په ۱۳٥۷ ش کال د کوشانیانو د څېړونو مرکز نشر کړي او اوس په ۱۳٦۳ کال د ایران دنیای کتاب خپور کړي دي.

دې کتاب د استاد د پروګرام له مخي نه نور ټوکونه هم درلودل چي ټوله شمیره یې تر لاس زرو مخونو زیاتیدله، خو استاد د ناروغۍ له امله و نه کړای شوه چي دې اثر ته خپل را غونډ کړي یاداشتونه تنظیم او چاپ ته چمتو کړي نو ځکه نور ټوکونه نالیکلي پاتي شول، او دا لومړي ټوک یې د شهکار په توګه را پاتي دي.

دا هم د یادولو ده چي په دوهم چاپ کي د استاد له خوا تعلیقاتو په ښه ګټوري زیاتوني شوي او همدا ټوک په دوهم ځل په دوو ټوکونو کي چاپ سوي دي.

د ایران چاپ د کابل د لومړي چاپ عکس دي خو په لومړۍ پښتۍ یې د افغانستان بعد از اسلام نه مخکي د تاریخ کلمه ور زیاته شوي او د منځ په پاڼه کي یې بیا نوم داسي لیکل شوي تاریخ ایران و افغانستان بعد از اسلام خو بیا یې هم په متن کي لاس وهنه نه ده شوې او هم هغه اعتبار لري لکه د کابل چاپ یې چي لري.

## اکبر نامه

دا اثر د افغانستان د تاریخ یو حماسي څپرکي دي چي حمید کشمیري په دري مثنوي نظم کړي، د افغان، انګریز د لومړي جنګ تصویر یې پکي ایستلي او خصوصاً د اکبر خان غازي په کارنامو یې رڼا اچولې ده.

استاد په دې اثر ژور تحقیق کړي، د هغه وخت تاریخي وقایع یې ورسره مله کړي او د څو نسخو له مخي یې چاپ ته چمتو کړي دي خو څرنګه چي د همدي کتاب متن انجمن تاریخ بې له لازمي مقدمي او تعلیقاتو د اروانښاد استاد کهزاد له خوا خپور کړ نو د استاد له خوا تهیه شوي متن تر اوسه همداسو ناچاپ پاتي شو.

## امیر کروړ او د هغه کورنۍ

دا د امیر کروړ او د ده د کورنۍ په باب د استاد حبیبي یوه جامع رساله ده چې په دري یې لیکلې او د ښاغلي زلمي هېوادمل پښتو کړې ده، دا اثر په کابل مجله کي تر خپرېدو وروسته د افغانستان د علومو اکېډمۍ له خوا په ۱۳٦۱ ش کال په ځانګړي ډول هم خپور شوي دي.

## امیر کروړ و دودمانش

دا د پښتو لومړني پېژندلي شوي شاعر امیر کروړ (د ۱٥٤ هـ ق مړ) او د ده د کورنۍ په باب د استاد یوه نوي څېړنه ده چې د نویو او پخو اسنادو په رڼا کي یې کړې ده. دا اثر لومړی د خراسان په مجله کي او بیا د افغانستان د علومو اکیډمۍ له خوا په ۱۳٦۱ ش کال په ځانګړې ټوکه خپور شوي دي.

## بابر په افغانستان کي

پر هند او افغانستان باندي د واکمن مغلي پاچا ظهیرالدین بابر پر ژوند، د ده پر اجتماعي، سیاسي، او ادبي اړخونو یوه څېړنه او خصوصاً په افغانستان کي د ده پر کارنامو یو تحقیق دي، چې استاد په انګلیسي ژبه لیکلي او د یونسکو د بین المللي مؤسسې له خوا په ۱۹۸۰ کال په فرانسه کي د بابر نامي له فرانسوي ترجمې سره خپور شوي دي.

## بلاد قدیم و تاریخي خراسان

دا د زاړه افغانستان تاریخي جغرافیا ده چه د خراسان زاړه ښارونه، د زړو سندونو په رڼا کي را پېژني، دا اثر د خورو ورو مقالو په توګه خپور شوي خو په کتاني بڼه لا نه دي نشر شوي.

## پټه خزانه

دا د پښتو د ٥۱ تنو شاعرانو او شاعراتو ارزښتناکه تذکره ده، د دې ګټوري تذکرې په پیدا کېدو سره د پښتو د تحریري ادب ژوند دوهمي هجري پېړۍ ته ورسیده او هم دې قیمتي خزانې د پښتو ډېر لرغوني لغات، لرغوني منشور او منظوم کتابونه او د پښتو یوه ډله نومورکي او پیاوړي شاعران را وپېژندل، دا تذکره د شاه حسین هوتک د دربار پیاوړي ادیب محمد هوتک په ۱۱٤۱-٤۲ هـ ق کلونو کي کښلې او د کتاب په دري ګونو خزانو کي یې لرغوني ویناوال، خپل معاصران او د پښتو شاعراني معرفي کړي دي، تر پیدا کیدو وروسته لوي استاد پوهاند حبیبي سمه کړه، سریزي، لمني او نښلوني یې پرې وکښلې همدا راز په دریم چاپ کي یې استاد حبیبي د پټې خزانې په باب د مستشرقینو او د داخلي شکاکانو ګوتنیوي په پاخه منطق رد کړي او یوه مفصله دري سریزه یې پرې وکښله چه همدا سریزه په څلورم چاپ کي په پښتو اړولي شوي ده.

پټه خزانه لومړي ځل پښتو ټولني په ۱۳۲۳ش کال په ۲۹۰ مخونو کي خپره کړي، بيا په ۱۳۳۹ ش کال د پوهني وزارت د دارالتاليف رياست په تهران کي خپره کړې په ۱۳۵٤ کال د پښتو د پراختاي او پياوړتيا آمريت له خوا اصل نه په افسيټي ډول خپره کړي او ځلورم ځل په ۱۳۵٦ کال د ادبياتو او بشري علومو پوهنځي بې ترجمې چاپ کړې ده. د دې خزانې بشپړه انگليسي ترجمه په ۱۹۸۳ع کال د يونيورسټي پريس آف امريکا له خوا چاپ سوې ده.

## پسرلنۍ سندره

دا د استاد يوه کوچنۍ منظومه رساله ده چي د افغانانو تاريخي عظمت او مليت پکي انځور شوي، له تاريخي مشاهيرو سره يې د زړه خواله پکي کړې او ځوانان يې د هېواد د پالني او خپلواکۍ ساتني ته هڅولي دي، دا اثر په ۱۳۱۷ ش کال په کندهار کي د طلوع افغان ادارې خپور کړي دي.

## پښتانه شعراء (لومړي ټوک)

دا د پښتو د سلو تنو پخوانو شاعرانو تذکره ده چي استاد دري ځلويښت کاله پخوا په کابل کي ليکلي او پښتو ټولني خپره کړې ده او هم د پښتو ادبي سبکونو په باب يوه ژوره تحليلي دريزه لري.
دا کتاب په ۱۳۲۰ ش کال پښتو تولني په ۳۹٤ مخونو کي په لويه گچه د اروانباد استاد محمد گل نوري په اهتمام خپور کړي دئ.

## پښتو او پښتنواله

دا د پښتونولۍ د کردونو، تورمونو، ترخونو او تيرو په باب يوه څېړنه ده چي د پښتنو دا عنعنوي قوانين او کلتور څېړي، دا رساله د طلوع افغان د ۱۳۱۷ش کال په کالنۍ کي خپره شوې ده چي بيا په ۱۳۵۵-۵٦ش کلونو کي په کابل مجله کي يو ځل بيا پرله پسې خپره شوي ده.

## پښتو د تاريخ او لغت په رڼا کي

پر پښتو ژبه باندي د استاد يوه زووره ژبنۍ څېړنه ده چي د وږمې مجلې د ۱۳٤۷ کال د پسرلي په گڼه کي خپره شوي ده.

## پښتو نثر ته کره کتني

د استاد د تنقيدي مقالو يوه وړکي مجموعه ده چي د پښتو معاصر ادب پکي کره کوي، دا رساله په ۱۳٦۰ش کال پر کابل مجله سربېره د افغانستان د علومو اکاډمي له خوا په ځانگړي ډول هم خپره شوې ده.

## پښتو و لویکان غزنه

لویکان په غزني کي د کوشانیانو یوه واکمنه کورنۍ ده چي د اسلام له راتلو سره یې واک ټینګ ؤ، استاد حبیبي په دې رساله کي دا کورنۍ معرفي کوي او د دوي د کورنۍ یو پښتو شعر راوړي او ثابتوي چي د دوي د ویلو ژبه پښتو وه چي دا د غزني په تاریخ او د پښتو ادب په تاریخ کي یو نوي تحقیق دي.

دا اثر په ۱۳٤۲ش کال د تاریخ ټولني له خوا خپور شوي دي.

## په اوسني پښتو شعر کي د ژوند څپې

د پښتو د معاصر شعر کره کتنه ده او معاصر شعر ته د ژوند له نظره ژور نظر کوي او د لیرې او بري پښتونخوا د شعر هغه پارچې څېړي چي ژوند پکي په غورځنګ دي.

دا اثر د افغانستان د علومو اکیډیمۍ په ۱۳٦۰ ش کال خپور کړي چي ٤۰ مخونه لري او ګچه یې ١٤x۲۰ سانتي متره ده.

## په شلمه پیړۍ کي د افغانستان هنر

په دې رساله کي د افغانستان د معاصر هنر بېلابېل څانګي لکه موسیقي، تیاتر، خطاطي او نور هنرونه څېړل شوي چي په ۱۳٦۰ش کال د هنر مجلې پر له پسې خپور کړي خو تر اوسه په کتابي بڼه لا نه دي خپور شوي.

## پیام عصر

دا یوه ویښونکي دري مثنوي ده چي استاد حبیبي په ۱۳۲۰ش کال کي ویلې ده او په ۱۳۷۹ ش کال د علامه حبیبي د څېړنو له مرکز له خوا خپره شوی ده.

## پیام یعقوب لیث

د یعقوب لیث صفاري د هیواد پالني د احساساتو په رڼا کي لیکل شوي پیام دي چي په څلورو ژبو کښل شوي خو چاپ شوي نه دي.

## پیغام شهید

فارسي مثنوي ده چي د هېواد پالني درسونه لري د ۱۳۱۷ ش کال په میزان کي په کابل کي په وړه کچه خپره شوي چه ۲۵ مخونه لري.

## تاج کابلشاه در کعبه

یوه کوچنۍ خو ډېره ګټوره رساله ده چي په کعبه کي د کابل شاه د یوه تاریخي تاج پته راکوي. دا اثر په ۱۳٤۸ش کال کي د افغانستان تاریخ ټولني په وړه جیبي قطع خپور کړي دي.

## تاریخ تجزیهٔ شهنشاهي افغان

تر احمد شاه بابا را وروسته د افغانستان د تجزیې او ټوټه کېدلو په باب په اسنادو ولاړ تحقیق دئ چي په دوو لویو ټوکونو کي کښل شوي خو په هواد کي د مطبوعاتي اختناق له کبله یې د نشر موقع نه ده موندلي. وروسته دا اثر په ۱۳۸۰ ش کال د علامه حبیبي د څېړوني د مرکز له خوا خپور شوی دي.

## تاریخچه ادبیات پښتو

دا د پښتو ادب په باب د استاد له لومړیو څېړنو څخه جوړه رساله ده چي په ۱۳۱۱ش کال په کندهار کي خپره شوي ده.

## تاریخچه بیداري سیاسي در افغانستان

دا په افغانستان کي د سیاسي غورځنگونو او ملي بهیرونو په ارتباط لیکل شوي گټور اثر دي چي استاد حبیبي د خپل مهاجرت په دوران کي لیکلي او په پېښور کي یې د آزاد افغانستان په جریده کي خپور کړي دي.

## تاریخچهٔ سبکهاي شعر پښتو

په دې رساله کي په دري ژبه د پښتو شعر سبکونه او ادبي مکتوبونه د هغې وخت د شتو موادو په رڼا کي ټاکل شوي او څېړل شوي دي چي د ۱۳۱۹ش کال په کابل کالنۍ کي خپور شوي دي.

## تاریخ افغانستان از آغاز دورهٔ اسلامي

د اسلامي دورې له را پیلیدو سره د افغانستان تاریخ دي چي په اردو ژبه کښل شوي او د استاد د مهاجرت په دوران کي په لاهور کي چاپ شوي دي.

## تاریخ افغانستان در عصر کورگانیان هند

په دې اثر کي د افغانستان د تاریخ هغه دوره څېړله کیږي چي افغانستان د هند د مغلو او د بابر د کورنۍ له خوا اداره کیږي، په دې اثر کي د افغانستان هر اړخیزه اجتماعي او فرهنگي وضع او د افغانستان مشاهیر او مخور معرفي شوي دي. دا اثر په ۱۳٤۲ کال د افغانستان د تاریخ ټولني له خوا خپور شوي دي.

## تاریخ خط و نوشتهاي کهن افغانستان

په دې اثر کي له قبل التاریخ نه را نیولي په افغانستان کي د خط د دودیدو او پرمختگ او ډولونو په باب مستندي خبري شوي او د راز، راز خطونو بېلا بېلي نمونې یې پکي راوړي دي چه په ۱۳۵۰ش کال د تاریخ ټولني له خوا په ۳۱۲ مخونو کي خپور شوي دي.

## تاريخ سياسي افغانستان (دو جلد)

په دې اثر کي د افغانستان سياسي څېره انځور شوي او د افغانستان د سياسي پېښنو څېړنه يې پکي کړې ده چي د حکومتونو د اختناقي پاليسيو له امله يې د چاپ موقع نه ده موندلې او لا تر اوسه قلمي پاتي دئ.

## تاريخ گويی به تعميه در اشعار قديم دري

په دې اثر کي په دري شعرونو کي د معماؤ رسالې او ويناوال را پېژني او د ادبي تعميو راز راز ډولونه پکي راوړي چي په ۱۳٦۰ش کال د افغانستان د علومو اکيدمئ له خوا په ۳۷ مخونو کي څپور شوي دئ.

## تاريخ مختصر افغانستان (جلد اول)

په دې اثر کي د افغانستان د تاريخ مهم ټکي او پېښي را لنډيز شوي چي که قبل الميلاد نه را پيلېږي او د چنگيز تر راوتلو ٦۰۰ هـ ق پوري واقعات څېړي، په ۱۳٤٦ کال د کتاب چاپولو مؤسسې خپور کړي چه ۲۲۱ مخونه لري.

## تاريخ مختصر افغانستان (جلد دوم)

دا د دې مهم اثر دوهم ټوک دي چي له شپږمي هجري قمري پېړۍ نه را وروسته بيا په ۱۹۱۹ع کال کي د امير حبيب الله خان ترا وژل کېدو پوري د افغانسان د تاريخ مهم ټکي څېړي. دا ټوک په ۱۳٤۹ ش کال د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا خپور شوي دي. (همدا ټوک يو ځل په ۱۳٤٦ش کال هم خپور شوي ؤ چي د وخت حکومت سانسور کړ او بيا تر څه لاسوهني وروسته خپور شو).

## تازه نواي معارک

دا د افغانستان د وروستيو پېړيو په تاريخ کي يو مهم متن دئ چي استاد د څو نسخو له مخي مقابله کړي، مقدمه يې پرې ليکلې او مهم تعليقات يې پرې ور زيات کړي دي، دا اثر په ۱۳۳۹ ش کال په کراچي کي د استاد د مهاجرت په وخت کي چاپ شوي دي.

## تحقيقات راجع به پټه خزانه

د محمد هوتک د پټې خزانې د مهم متن په باب د استاد يوه ځانگړې څېړنه ده چي د ۱۳۲٤ ش کال په کابل کلنۍ کي په دري ژبه خپره شوې ده.

## تحقيقات راجع به کتاب ترجمان البلاغه

دا اثر د محمد بن عمرالرادوياني تاليف دئ چي استاد په دري ژبه څېړنه پرې کړې او په ۱۳۳۰ش کال په کابل کي خپور شوي دي.

## تحقیق بر تاریخ وفات سنائي

د حکیم ابوالمجد مجدود بن آدم سنائي غزنوي د مړیني په باب یې د ادبي متنونو تعمیر او تاریخ ګویۍ سره پرتله کړې، له تاریخي اسنادو او پېښو سره یې مخامخ کړې او په نتیجه کې یې د حکیم سنائي د وفات تاریخ ترې څرګند کړي دي، دا رساله یې د حکیم سنائي په سیمینار کې بحث ته وړاندې کړې او بیا د کابل او ایران په مجلو کې خپره شوې ده.

## تذکرة الاولیاء

د سلیمان ماکو تذکرة الاولیاء یو لرغوني کتاب دئ چې تر ٦١٢ هـ ق کال را وروسته کښل شوي، استاد یې نیمه پېړۍ پخوا څو پاڼې د هلمند له یوه زاړه جومات نه بیا موندلې او په لومړي ټوک پښتانه شعراء او د ١٣١٩ش کال په کابل کالنۍ کې خپرې شوې. چې بیا تذکرة الاولیاء باندې د استاد ټول تحقیقات او د تذکرة الاولیاء د پاڼو عکس او لوستلو شکل د یوې رسالې په ډول په ١٣٦١ش کال د افغانستان د علومو اکاډیمۍ له خوا نشر شو.

## تصوف

دا اثر د تصوف د پېژندګلوۍ او په افغانستان کې د تصوف پر سیر یوه څېړنه ده چې استاد د درسي کتاب په توګه د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي له پاره لیکلې او همدې پوهنځي د اداري له خوا د کستتنر په ماشین چاپ شوي دئ.

## تعلیقات بر تاریخ تلفظ و صرف پښتو

"تاریخ تلفظ و صرف پښتو" د پښتو په باب د نامتو مستشرقینو دارمستتر، ګایګر، مورګینسترن او بنونیست د نظریاتو مجموعه ده چې دکتور روان فرهادي را غونډه کړې او استاد بیا د دوی د ځینې نظریاتو په رد او تصحیح کې تعلیقات پرې کښلي دي چې د استاد تصحیحات د کتاب په دوهم ټوک کې له ٢٥٧ تر ٢٩٤ مخ پورې راغلي دي. دا کتاب په ١٣٥٦ش کال د ادبیاتو د پوهنځي له خوا په دوو ټوکونو کې خپور شوي دئ.

## جوانمردان و عیاران

حوانمردي او عیاري د اسلامي پېړیو له اوایلو نه په افغانستان کې د انسانیت یوه خدمتګاره لاره ده چې د دې لارې پېروانو به د بېوزلانو او له پښو لویدلو انسانانو دپاره قهرمانۍ کولې او ځانګړې د ژوند اصول یې درلودل. استاد په خپل دې اثر کې د دې ډول خلکو د اخلاق، افکارو او خدماتو څېړنه کړې چې په ١٣٢١ش کال په کابل کې خپور شوي دئ.

## چهار مقاله بر فردوسي و شاهنامه

دا د پروفیسور محمود شیراني اردو اثر دئ چي استاد ژباړلي، سریزه يې پرې کښلې او لازمي حاشيې يې ورکړې دي. دا اثر د بيهقي کتاب خپرولو د مؤسسې له خوا په ۱۳۵۵کال په کابل کي خپور شوي دئ.

## حديقة الحقيقة يا الهٰي نامه

د افغانستان د لوي عارف حکيم سنايي غزنوي د مشهور عرفاني اثر حديقې د يوه کره او پاخه متن د تهيه کولو له پاره هم استاد ليچې غړلي وې چي ټوله شمېره يې پنځه زره بيته کيده او د څو نسخو له مخي يې ترتيباوه. دوي د دې اثر يوه نمونه چي ۱۱۷۰ بيتونه پکي راغلي او مفصلي حوالې لري د حکيم سنايي د سيمينار له پاره په ۱۳۵٦ کال کي تياره کړه چي د بيهقي کتاب خپرولو مؤسسې نشر کړه خو پاتي کار يې د استاد د ناروغۍ له امله پاتي شو. دا نمونه په ۱۰٤ مخو کي خپره شوې ده.

## خليلي نامه

استاد حبيبي چي په پاکستان کي د مهاجرت شپې ورځې تېرولې، په کابل کي استاد خليلي د وخت د حکومت په اشاره يوه هجويه مثنوي پسې وليکله چي د ټولو اخلاقي موازينو خلاف وه. دا هجويه مثنوي په نيلاب نومي جريده کي نشر شوه چي بيا يې استاد حبيبي د خليلي نامه په نامه په مثنوي ځواب وکيښ او په پيښور کي يې د يوې رسالې په بڼه په ۱۳۳٤ش کال نشر کړه.

## خود آموز پښتو (دوه جلده)

دا د پښتو زده کړې دوه لومړني کتابونه دي چي په کندهار کي د يوې ډلې پوهانو له خوا کښل شوي، استاد هم د همدې ډلې غړي ؤ، دا دواړه ټوکه خود آموز په ۱۳۱۳ او ۱۳۱٤ش کلونو کي دوه ځله په کندهار کي چاپ شوي دي.

## خودي و بيخودي در انديشهٔ اقبال

دا د علامه اقبال د خودي او بيخودي په نظريه د استاد حبيبي يوه څېړنه ده چي د علامه اقبال د يادګيرني د سيمينار له پاره يې کښلې او په ۱۳۵٦ ش کال د ادب د مجلې له خوا خپره شوې ده.

## د ابداليانو مشاهير تر احمد شاه دمخه

د ابداليانو د کورنۍ هغه مشران او مخور پکي معرفي شوي چي تر احمد شاه بابا وړاندي يې مشري او يا محلي واکمنۍ درلودې، دا اثر په پښتو کښل شوي دئ او د ۱۳۲۲ش کال په کابل کالنۍ کي خپور شوي دئ.

## د افتانستان پېښلیک

دا د استاد یو ډېر مهم اثر دئ چي د افغانستان د تاریخ د ټولو برخو مفردات لکه سیاسي، اجتماعي، کلتوري او اقتصادي له دو پنځوس زره کاله پخوا څخه د پېښو د پېښېدو له نېټې نه را پیلوي، او دا ټوک یې زموږ د تاریخ یون د ۱۳٤۱ش کال د کب تر ۱۹ نېټې پوري را رسوي.

دا لومړی ټوک یې ۳۱۸ مخونه لري په لویه کچه په ۱۳۵۳ش کال کي د بیهقي کتاب خپرولو مؤسسې له خوا خپور شوي دي.

## د افغانستان لنډ تاریخ

دا د لوي استاد د تاریخ مختصر افغانستان د پښتو ژباړه ده چي ښاغلي عبدالرؤف بینوا کړې، دواړه ټوکه په یوه ځاي سره راوړل شوي او د محمدزو د تاریخ برخه ترې حذفه شوې ده.

دا اثر په ۱۳۵٦ش کال د تاریخ ټولني له خوا د پښتو د چاپي اثارو د دوه سوم کال د سیمینار په ویاړ خپور شوی دئ.

## د البیروني کتاب ښود

د افغانستان د لوي پوه علامه ابو ریحان بیروني د ۱۷۳ هغو آثارو کتاب ښود او معرفي ده، چي تر اوسه د بېلابېلو اخځونو له لاري پېژندل شوي دي، د کتاب لیکوال احمد سعید خان د علیګړ د اسلامي څېړنو کتابدار دئ چي استاد له اردو نه ژباړلي، ځاي په ځاي یې زیاتوني پکي کړي او دا اثر یې لا پسې بشپړ کړي او ګټور کړي دي.

دا اثر په ۱۳۵۲ش کال د بیهقي کتاب خپرولو مؤسسې خپور کړي دئ.

## د امیر علي شیر فکري نبسټ او سیاسي شخصیت

په دې وړه رساله کي چي استاد حبیبي د امیر علي شیر نوائي د پنځه سویي کلیز په مناسبت کښلي د امیر علي شیر پر شخصیت عالمانه رڼا اچوله شوې ده.

دا رساله د امیر علي شیر نوائي په رساله کي چی ښاغلي زلمي هېوادمل لیکلې او راغونډه کړې راغلي ده، په ۱۳٦۰ ش کال کي د افغانستان د علومو اکیډمي خپرونه.

## د بو علي سینا بلخي ژوند لیک

په دې اثر کي د افغانستان د لوي علمي شخصیت شیخ الرئیس ابو علي سینا بلخي ژوند پېژندنه راغلې چي اصل یې ابو عبید عبدالواحد بن محمد جوزجاني کښلي او استاد حبیبي له عربي څخه په دري ترجمه کړي، نسخې یې سره مقابله کړي او سریزه، حواشي او تعلیقات یې پرې لیکلي دي. د پښتو ژباړه یې

ښاغلي زلمي هېوادمل کړې. په ۱۳۵۹ کال د افغانستان د علومو اکاډیمۍ له خوا په ۱۲٤ مخونو کي په ۲۰x۱٤سانتي متر کچه خپور شوي دئ.

## د پښتو ادب په تاریخ کي قصیده

په دې اثر کي استاد حبیبي د قصیدې په باب څېړنه کړې، پښتو قصیدې يې له غوري دورې نه بیا د دولسمي پېړۍ تر پایه پکي څېړلي. له دري قصیدو سره يې پرتله کړې او د پښتو بوللو (قصیدو) خصوصیات او ځانګړني يې پکي بیان کړي دي.

دا اثر په ۱۳۵۷ش کال د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا خپور شوي دئ.

## د پښتو ادب تاریخ (د ۳ صنف له پاره)

دا د پښتو ادب تاریخ په برخه کي د استاد درسي نوټ دئ چي له زرم کال نه راپیلېږي او د دوولسمي، دیارلسمي پېړۍ ادبیات څېړي.

دا اثر د ادبیاتو پوهنځي د دریم ټولګي درسي کتاب دئ چي په ۱۳٤۷کال د همدې پوهنځي له خوا په کستتنري ټوګه چاپ سوي دئ.

## د پښتو ادب تاریخ (د ٤ صنف له پاره)

دا هم د پښتو ادب د تاریخ د درسي نوټ سلسله ده چي د پښتو ادب تر معاصري څېړني پوري رارسېږي، دا د ادبیاتو او بشري علومو د څلورم صنف له پاره کښل شوي چي د همدې پوهنځي له خوا په ۱۳٤۷ش کال په کستتنري ډول خپور شوي دئ.

## د پښتو ادبیاتو تاریخ (لومړی ټوک)

په دې اثر کي استاد تر اسلام وړاندي د پښتو ژبي په موجودیت، ژبني ارتباطونو او ادبي غزونو بحث کوي چي د کابل د ادبیاتو د پوهنځي له جوړېدو سره يې د دې پوهنځي د درس له پاره کښلي او په ۱۳۲۵ش کال د ادبیاتو پوهنځي خپور کړئ چي بیا په پېښور کي سید تقویم الحق لنډیز او په علاقايي پښتو ژباړلي او دریم چاپ يې استاد له سره بشپړ کړي او لازمي او مهمي زیاتوني يې پکي ګړي چه په ۱۳۵۳ش کال د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي له خوا يو ځل بیا خپور شوي دئ.

## د پښتو د ادبیاتو تاریخ (دوهم ټوک)

دا د دې مهم او ګټور تاریخ دوهم ټوک دئ چه پښتو ادبیات د اسلام له را تللو څخه بیا تر زرم هجري کال پوري څېړي چي يو ځل په ۱۳۳٦ ش کال پښتو ټولني خپور کړي خو بیا له بشپړو زیاتونو او نویو تحقیقاتو سره په ۱۳٤۲ ش کال کي پښتو ټولني يو ځل بیا خپور کړ.

## د پښتو اصطلاحاتو وضع

دا په پښتو کي د نویو نوم ایښودونو په باب د استاد یوه رساله ده چي په یوه ژبه کي د نویو نوم ایښودنو په ضرورت غږیږي، د لغاتو د وضع علمي او له ژبنیو اصولو سره سمي لاري ښیي او بیا د دې اصولو په رڼا کي د عصر د نویو ایجاداتو په باب د پښتو د ژبني خصوصیت په رڼا کي ځیني لغتونه وضع کوي او لست یې راوړي. دا اثر په ۱۳۱۷ش کال په کندهار کي د طلوع افغان په کالنۍ کي خپور شوي دئ.

## د پښتو ژبي او ادب موقف د مرکزي ایشیا د خلکو په تمدنونو کي

دا د پښتو ژبي په باب د استاد یوه نوې څېړنه او کشف دي او ثابتوي چي پښتو د هندي آریاني او آریاني ژبو تر منځ د اتصال کړۍ ده او دا دواړه ډلي آریایي ژبي سره نښلوي، دا نظریي لومړي د پښتو څېړنو په نړیوال سیمینار کي چه مارکنسټرن او نور مهم ختیز پوهان هم ورته راغلي وو، څرکند کړ او تاوده بحثونه پرې وشول.

د استاد دا تحقیق د ''پښتو څېړني'' په کتاب، وږمه مجله او د هیواد په نورو خپرونو کي په ډېره مینه او تلوسه خپور شوي دئ.

## د تیموریانو په دوره کي د کتاب جوړني هنر تاریخ لومړني منابع

دا اثر استاد حبیبي د لنډیز په ډول د هرات د تیموریانو د روښانه کلتوري دورې په باب په انگلیسي ژبه کښلي چي د یونسکو له خوا خپور شوي دي (همدا اثر بیا استاد پسې څېړلي او پنډ کتاب یې پرې لیکلي چي وروسته در پېژندل کیږي.

## د روښان پیر عصر او د ده غورځنگ

په دې رساله کي استاد حبیبي د بایزید روښان شخصیت د ده چاپېر او د ده مبارزې او غورځنگونه څېړي، دا رساله په ۱۳۵۳ش کال د خېرالبیان په سریزه کي د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي له خوا خپره شوي او په ۱۳۵۵ش کال کي ''د روښان یاد'' په مجموعه کي کاتب الحروف د پښتو ټولني له خوا خپره کړې ده چي ځانگړې نسخې یې هم خپرې شوي دي.

## د عبدالقادر خان خټک دیوان

اساد حبیبي د څو نسخو له مخي د عبدالقادر خان خټک د دیوان  متن تهیه کړي او یوه مفصله تحقیقي سریزه یې پرې کښلې ده. دا دیوان په ۱۳۱۷ش کال د کندهار په مطبعه کي په ډبرین ماشین چاپ شوي دئ.

## د کوشانیانو دین

د کوشانیانو د دین په باب استاد یوه څېړنه کړې، دا اثر یې په انګلیسي ژبه د یونسکو د کوشاني البم له پاره لیکلي دي د لیکلو کال ۱۳۵۸ش.

## د خوشحال خان ختک مرغلري

استاد د څو نسخو له مخي د پښتو د ستر شاعر خوشحال خان ختک د دیوان متن تهیه کړ، یوه اوږده او جامع سریزه یې پرې ولیکله او په ۱۳۱٦ش کال یې د کندهار د مطبعې په محدودو وسایلو کي له کندهاره خپور کړ چه دا د خوشحال خان د دیوان لومړني انتقادي متن دئ.

## د ډارمستتر پښتو څېړني

د پښتو په باب د فرانسوي مستشرق نظریات دي چي ښاغلي سید قاسم رښتیا له فرانسوي نه په دري ژباړلي وو، استاد حبیبي یوه برخه په خپله او بله برخه د ښاغلي بینوا په وسیله پښتو کړه او ځاي پر ځاي یې حاشیې پرې وکښلې چي په کابل مجله کي په خپریدو سربېره په ۱۳۲۵ش کال کي پښتو ټولني د ځانګړي کتاب په ډول هم خپور کړ.

## درد دل

دا د استاد یوه دري مثنوي ده چي ملي دردونه یې پکي انځور کړي او په ۱۳۷۹ ش کال کي د علامه حبیبي د څېړونو د مرکز له خوا خپره شوي ده.

## د میا فقیرالله پېژند لیک

په دولسمه پېړۍ کي د پښو د لوي روحاني علمي، سیاسي او ادبي شخصیت میا فقیرالله جلال آبادي ثم الشکار پوري پېژندنه یې په دري ژبه پکي لیکلې. دا اثر ښاغلي زلمي هېوادمل پښتو کړي او په ۱۳۵۹ش کال د افغانسان د علومو اکاډمۍ له خوا خپور شوي دئ.

## رساله قافیه جامي

د قافیې په باب د مولانا نورالدین عبدالرحمن جامي یوه رساله ده چي استاد یې متن صحیح کري سریزه او تعلیقات یې پرې کښلي او په ۱۳۵۷ کال په کابل کي خپره شوېده.

## روابط ادبي وادي سند با افغانستان

په دې اثر کي هغه ادبي آثار او ادبي مواریث څېړل شوي چي د سند او افغانستان تر منځ یې ادبي مزي غزولي او ادبي راکړې ورکړې او راشي درشي یې تر منځ شوي دي، دا اثر په ۱۳۳۷ش کال په کراچي کي د استاد د مهاجرت په دوران کي چاپ شوي دئ.

## روضة الفريقين

دا اثر ابو رجاء مؤمل بن مسرور شاشي مروي (د ۵۱۷هـ ق کال مړ) اثر دي چي استاد يې انتقادي متن تهيه کړي سريزه او تعليقات يې پرې کښلي او په ۱۳۵٦ش کال په ايران کي چاپ شوي دئ.

## رهنماي تاريخ افغانستان

په دې اثر کي استاد د هغو ټولو آثارو پېژندنه راوړي چي په پښتو، دري، فارسي، اردو، عربي، انګليسي او ځيني نورو ژبو پر افغانستان باندي کښل شوي او يا د افغانستان د رجالو، سيمو او نورو مواريثو په باب ضمني او قسمي بحث لري.

## زبان دو هزار ساله افغانستان يا مادر زبان دري

استاد په دې اثر کي د بغلان د سره کوتل کتيبه څېړلې چي په هغه کي يې د پښتو او دري لغات او نخښې را برسېره کړي او د هغه وخت د موادو په رڼا کي د دې کتيبې ژبه د افغانستان د دري ژبې مور بلله خو وروسته مستشرقينو د نويو ژبنيو تحقيقاتو په بنا ثابته کره چي د دې کتيبې ژنه د پښتو مور او د دي هېواد يوه ځايي او لرغونې ژنه ده.

## زرنج وا احوال تاريخي آن

د زرنج د تاريخي جغرافيا او تاريخي سوابقو په باب يو تحقيقي اثر دئ چه استاد په دري ژبه کښلي او په ۱۳۲۳ش کال په کابل کي خپور شوي دئ.

## زندگي نامه ابن سينا

دا اثر استاد له عربي نه په دري اړولي، سريزه يې پرې ليکلې او لمني او نښلوني (حاشيې او تعليقات) يې پرې کښلي دي. د ابن سينا د زرئ په مناسبت په ۱۳۵۹ش کال په کابل کي چاپ شوي دئ.

## زين الاخبار گردېزي

د عبدالحي گردېزي د تاريخي، جغرافيايي کتاب انتقادي متن دي چي استاد په زيات کړاو برابر کړي سريزه يې پرې کښلې او حاشيې او تعليقات يې ورکړي دي، دا اثر په ۱۳٤۷ش کال په تهران کي چاپ شوي دئ.

## سپېڅلې پښتو

دري، پښتو قاموس دي چه د دري لس زره لغتونه په پښتو پکي راغلي، دا اثر استاد حبيبي له مرحوم لعل محمد کاکړ سره په ګډه ليکلي چي استاد د فيلالوژئ د علم په رڼا کي يوه عالمانه مقدمه هم پرې کښلې ده، دا په افغانستان کي له لومړنيو فرهنگونو څخه دئ چه په ۱۳۱۸ش کال په کندهار کي په جيبي قطع چاپ شوي دئ.

## سردار مهر دل خان مشرقي شاعر قندهاري

دا د افغانستان د یوه صوفي شاعر د ژوند پېژندني او وینا په باب یو اثر دئ، چي استاد په دري ژبه کښلي او په ۱۳۱۲ش کال په کابل کي چاپ شوي دئ.

## سررشته طریقت خواجگان

دا د مولانا نورالدین عبدالرحمن جامي د تصوفي او ایرادو او آدابو یوه مجموعه ده چي استاد یې متن له سریزي او توضیحاتو سره د مولانا جامي سیمینار ته تهیه کړي او په ۱۳٤۳ش کال کي د جامي د انجمن له خوا په کابل کي خپور شوي دئ.

## سوات نامه د خوشحال خان خټک

د خوشحال بابا د سوات د سفر منظوم واقعات دي چي پر ادبي ارځښت سربېره تاریخي او د ټولنپوهني له خوا هم ډېر ارځښت لري. استاد په دې اثر مفصله سریزه کښلې او ډېري مفصلي څرگندوني او تشریحات یې پرې ور زیات کړي دي چي په ۱۳۵۸ ش کال د افغانستان د علومو اکاډمۍ خپور کړي دي، اثر په لویه ۲٤x۱۷ سانتي متره کچه خپور شوي چي ۷۷ مخه مقدمه او ۷ مخه متن لري.

## سواد الاعظم

دا یو لرغوني دیني متن دئ چي د زړې دري یوه ارزښتناکه نمونه هم ده. استاد سریزه او تشریحات پرې کښلي او د کتاب انتقادي متن یې تهیه کړي دئ. دا اثر په ۱۳٤۸ش کال په تهارن کي چاپ شوي دئ.

## سیرت، ابتکار و آثار شیخ الاسلام خواجه عبدالله انصاري

په دې رساله کي استاد حبیبي د خواجه په ژوند او آثارو زوره څېړنه کړې چي د ده د مړیني نه سوم تلین په سیمینار کي اوروله شوې او بیا دې سیمینار د مقالو په مجموعه کي په ۱۳٤۱ کال د مطبوعاتو د ریاست له خوا څپره شوې ده.

## شاعر اندیشه (مولانا جلال الدین بلخي)

دا د مولان جلال الدین بلخي په باب د استاد حبیبي یوه څېړنه ده چي د ده د فکر او نظر جاج اخلي، دا رساله د مولانا د سیمینار د مقالو په مجموعه سربیره په ځانگړي ډول هم په ۱۳۵۳ش کال په کابل کي خپره شوې ده.

## شاعر هیرمند هارون خان افغان

د یاد شوي شاعر پر ژوند او آثارو یوه څېړنه ده، چي استاد د مهاجرت په دوران کي په کراچي کي کښلې او هماغلته په ۱۳۳۸ ش کال خپور شوې دئ.

## شرح بیتین مثنوي مولانا جلال الدین بلخي

د مثنوي د دوو لومړيو بیتونو شرح ده چي سردار مهر دل خان مشرقي په خوږه مثنوي کړې او استاد له مقدمې او تشریحاتو سره چاپ ته چمتو کړې ده، دا اثر په ۱۳۵۱ش کال د افغانستان اکاډمي د تاریخ او ادب ټولګي له خوا خپور شوی دئ.

## شناختنامهٔ میا فقیرالله جلال آبادي

د هیواد د لوي عارف، سیاّس، ادیب او مؤلف میا فقیرالله حصارکي ژوند پیژدنه ده چي د استاد په دقیق نظر کښله شوې او په کابل کي د دهٔ د مکتوباتو د سریزي په ټوکه په ۱۳۵۹ش کال د پوهني وزارت له خوا خپره شوې ده.

## صد میدان

د شیخ الاسلام خواجه عبدالله انصاري یو تصوفي اثر دئ، د تصوف د ډکر او د دې ډګر د یون په باب لاربښودني او عارفانه نکات او نغوتي لري. استاد سریزه پرې کښلې نسخې یې سره مقابله کړي او تشریحات یې ورکړي چي د خواجه د سیمینارو په ویاړ په ۱۳۴۲ش کال په کابل کي خپور شوی دئ.

## طبقات الصوفیه

دا د خواجه عبدالله انصاري امالي ده چي د صوفیانو په تاریخ، طبقو او نورو خصوصیاتو او شرایطو غږیږي او په زړه دري کښل شوی دئ.

استاد دا مهم عرفاني او ادبي اثر د څو نسخو له مخي تهیه کړي او په ۱۳۴۲ش کال د افغانستان د تاریخ ټولني له خوا په کابل کي خپور شوی دئ.

همدا اثر په ۱۳۶۲ش کال په ایران کي حسین آهي نومي سړي د کابل له چاپ نه عکس کړي او چاپ کړي، څو مخیره مقدم یې پرې لیکلي او په پښتي باندي یې د ''مقابلهٔ مجدد'' د ټکي په لیکلو سره غوښتي چي د استاد دا لوي اثر خپل کړاو وښيي، سره له دې چي له عکس ګیرئ پرته یې نور هیڅ کار نه دي پکي کړي.

## طبقات ناصري (جلد اول)

د قاضي منهاج سراج جوزجاني اثر دئ چي له آدمه بیا تر خپله عصره پوري چی د غوریانو دوره ده د افغانستان تاریخ د وخت د روایاتو وا استنادو په رڼا کي څېړي چي استاد د څو نسخو له مخي تهیه کړي، مقدمه او مفصل تعلیقات یې پرې کښلي دي، په ۱۳۴۲ش کال د کابل تاریخ ټولني خپور کړي دئ.

## طبقات ناصري (جلد دوم)

دا د دې اثر دوهم ټوک دئ چې د مفصلو تعليقاتو برخه يې په همدې ټوک کې ده، د ۱۳۴۲ش کال چاپ.

يادونه: د طبقات ناصري متن، مقدمه، تشريحات، او تعليقات په اردو ژبه هم ژباړل شوي چې په پاکستان کې په دوو ټوکونو کې خپور شوي دي.

## طلوع افغان (لس کاله چلول)

لوي استاد د طلوع افغان جريده له ۱۳۱۰ش تر ۱۳۱۹ ش پورې پر له پسې وچلوله او د همده د مديريت په وخت کې ټوله په پښتو شوه. د دې جريدې داسې ګڼې زياتې دي چې له خبر، سرمقالې، کومنټرۍ نه نيولې تر شعر، فکاهي، داستان او مضامينو پورې ټول يې د استاد په قلم دي، استاد په هغه وخت کې هڅه کړې چې جريده يې د وخت د جريده نګارۍ ټولې خوبۍ ولري او په لوړ معيار يې نشر کړي او الحق چې همداسې هم شوې او د استاد د وخت طلوع افغان يوه معياري او له هره پلوه بشپړه جريده ده.

## ظهيرالدين بابر (زندکاني و شخصيت او)

په دې اثر کې د بابر ژوند، سياستمداري، ذوقونه، هنرونه او ادبي اړخونه په دري ژبه څېړلي شوي چې په ۱۳۵۱ش کال د بيهقي کتاب څپرولو مؤسسې خپور کړي دئ.

## غزنه

دا د استاد يوه دري مثنوي ده چې د غزني د تاريخي عظيمت او لوينښت په باب ويلې او په ۱۳۱۵ش کال په کابل کې خپره شوې ده.

## فضائل بلخ

فضائل بلخ يو زوړ دري متن دئ چه د بلخ تاريخ، لرغوني مشاهير او نور اړخونه پکي څېړل شويد دي، استاد د دې ارځښتمن اثر انتقادي متن تهيه کړي، مقدمه، تشريحات او لازم تصحيحات يې پکي کړي دي، دا اثر په ۱۳۴۹ ش کال په ايران کي خپور شوي دئ.

## کتابشناسي البيروني

دا د البيروني د کاتاب ښود دري ترجمه ده چه استاد له اردو نه په دواړو ژبو را اړولې، دري ترجمه په کابل او تهران دواړو کي په ۱۳۵۲ش کال د البيروني د زرمي کليزي په وياړ خپره شوي ده.

## کتابهاي ګمشدهٔ تاريخ غزنويان

دا د لرغوني غزني د روښانه څېرې په باب د هغو ليکل شوو آثارو کتاب ښود دي چه ورک دئ.

د دې اثر يوه برخه په کراچي کي په ۱۳۳۸کال د استاد د مهاجرت په دوران کي چاپ شوې ده.

## کشف شاهنامه قبل از دورهٔ مغل

دا د استاد حبیبي له وروستینو تحقیقاتو نه یوه مهمه څېړنه ده چې د شاهنامې هغه نسخه را معرفي کوي چې د چنګېزیانو تر تباه کن تاړاک دمخه لیکله شوې ده. ځکه تر دې تاړاک را وروسته نخسې یې بې باوره او زیاتي یې مجهولي او مجعولي دي. دا اثر په ۱۳۶۲ش کال په کابل کي خپور شوي دئ.

## کلید شاهنامه (قلمي)

دا د استاد یو مهم اثر دئ چې د فردوسي د شهنامې او اسماؤ، اعلامو، لغاتو، کشف الابیات او مضامینو لوي فرهنګ یې په درې لویو ټوکونو کي ترتیب کړي خو تر اوسه چاپ شوي نه دئ.

## لغة البشتو

دا د استاد حبیبي له خوا کښل شوي د پښتو د ژبي او ادب د مومړنۍ پېژندني په باب یوه کوچنوټې رساله ده چې په عربي ژبه په ۱۹٦۵ع کال په قاهره کي چاپ شوې او عرب له پښتو ژبي او ادب سره اشنا کوي.

## لالۀ کهسار

دا د افغانستان د دري ژبو نومورکو شاعرانو د وینا مجموعه ده چې تر اوسه خپره شوې نه ده.

## لوي احمد شاه بابا

دا د استاد یو اثر دي چې دوې سره بیلې برخي لري په لومړۍ برخه کي یې ”د احمد شاه بابا: ادیب شاعر مصلح، مفکر“ تر عنوان لاندي د احمد شاه بابا پر ژوند، عصر او معصرانو ژوره څېړنه کړې، او په دوهمه برخه کي یې د احمد شاه بابا د دیوان انتقادي متن وړاندي کړي دئ.

دا اثر په ۱۳۱۹ش کال د پښتو ټولني له خوا تر ٤۰۰ زیات مخونو کي چاپ شوي دئ.

## متون دري

دا د دري ادبي متونو انتخاب دي چې استاد د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د محصلینو له پاره کړي او د همدې پوهځي له خوا په ګستتنري ډول خپور شوي دئ.

## مجمع الغرائب و مزار علوي در بلخ

دا د استاد حبیبي له خوا د افغانسان د یوه تالیف او یوه مؤلف په باب څېړنه ده چې بشپړه لا نه ده څېره شوې.

## محقق قندهاري

په دې اثر کې د علامه حبیب الله قندهاري ژوند پیژندنه او آثار راغلي دي، علامه د افغانستان یو لوی علمي شخصیت او د استد حبیبي له غور نیکونو څخه دي.

دا اثر په کابل کې خپور شوی دئ.

## مدرسه شاه مشهد غرجستان

دا د یوې تاریخي بنا به باب د استاد حبیبي یوه ګټوره او ابتکاري څېړنه ده چې زموږ په تاریخ کې د تاریخي هنر یوه رڼه بیلګه راسپړي.

د استاد دا اثر په ۱۳۵۵ش کال د ایران د هنر و مردم په مجله کې او په ۱۳۵۹ش کال د کابل په هنر مجله کې خپور شوی دئ.

## مدوجزر افغانستان

دا دري مسدس دي چې په ۱۳۰۸ش کال داسي وخت استاد کښلي چې د ده په وړاندي د افغانستان آزادي تر لاسه شوې. بیا توره سقوي دوره پرې راغلې او وطن وران شوی دئ. د استاد دا له درده ډک مسدس د مسلط اختناق له کبله لا خپور شوی نه دئ.

## مذکر احباب

دا د نثاري بخاري دري تالیف دي چې استاد یې متن تهیه کړي، سریزه، حاشیې او توضیحات یې پرې کښلي دي خو دا اثر تر اوسه خپور شوی نه دئ.

## ملتان کا لودي شاهي خاندان

د استاد حبیبي دا اثر د ملتان د لودیانو په باب په اردو ژبه کښلي چه د دوی د مهاجرت په دوران کې په ۱۹۴۹ع کال په لاهور کې چاپ سوی دئ.

## منازل السائرین در دائرهٔ وجود

منازل السائرین د شیخ الاسلام خواجه عبدالله انصاري یو مغلق تصوفي کتاب دئ چه استاد په دې رساله کې په دائروي ډول لنډیز کړي او د وجود دائره یې ترې استخراج کړې ده.

دا اثر د شیخ د زیږیدني د زرمي کلیزي په ویاړ په ۱۳۵۵ش کال د ادب د مجلې په یوه خاصه ګڼه کې خپور شوی دئ.

## نامهاي برخي از ایزادان عصر کوشاني

په دې رساله کې د کوشاني دورې د ځیني هغو ایزدانو یادونه شوې چې د افغانستان په ژبو او ادب کې یې اغیز پاتي دئ.

دا استاد دا اثر د کوشاني څېړنو په مجله کي په ۱۳۵۹ش کال خپور شوي دئ.

## نسب و زادگاه سید جمال الدین افغاني

په دې رساله کي د علامه سید جمال الدین افغاني په استوګنځي او کورنۍ باندي د رسمي دفتري سندونو په رڼا کي څېړنه شوې چي د علامه د سیمینار په مناسبت په کابل کي په ۱۳۵۵ کال خپور شوي دئ.

## نظري به ادبیات پښتو

دا د استاد د لغة البشتو د عربي اثر دري ژباړه ده چه ښاغلي سمندر غوریاني کړې او د ادبیاتو د پوهنځي له خوا په ۱۳۵۷ش کال خپور شوي دئ.

## نگاهي بسلامان و ابسال جامي

دا د نورالدین عبدالرحمن جامي یو حکایي اثر دئ چي استاد تحلیل کړي او اروانښاد محمد اسماعیل مبلغ تعلیقات پرې کښلي دي.

## نوشته هاي من

دا د استاد بې نومه اثر دئ چي دی په فهرستونو کي د "نوشته هاي من" نوم ورته اخلي، په دې اثر کي د استاد اجتماعي، ادبي، تاریخي مقالې، تاریخي یاداشتونه او منظوم مثتوني پښتو او دري آثار را غونډ شوي چي دري ضخیم جلدونه جوړوي. ځني یې خواره وراه خپاره شوي خو تر اوسه په یو ځایي ټوکه نشر شوي نه دئ.

## نومورکي مؤرخین

په دې اثر کي استاد حبیبي د هغه مؤرخینو تذکره لیکلې چي د پښتنو په باب یې آثار کښلي دي. دا اثر یو ځل په ۱۳۲۳ش کال په کابل کالنۍ کي خپور شوي او بیا له بشپړو زیاتونو سره په ۱۳۵۹ش کال د فیلالوژۍ پوهنځي په ۱۱٦ مخونو کي خپور کړي دئ.

## هفت کتیبهٔ قدیم

په دې اثر کي استاد اووه لرغوني کتیبې څېړي، د متن په تاریخي ارځښت او ډېر لیکونو په ژبني ارځښت یې خبري کوي او د هري کتیبې تحلیل وړاندي کوي.

دا اثر په ۱۳٤۸ش کال په کابل کي د تاریخ ټولني له خوا خپور شوي دئ.

## هنر عصر تیموریان و متفرعات آن

په دې اثر کي د هرات په هنر پوري مربوط ۲٦۰۰ دانې اثره معرفي شوي چي په لویه قطع تر زرو مخونو زیات کتاب ترې جوړ شوي دئ. دا اثر په ۱۳۵۵ش کال په ایران کي خپور شوي دئ.

## دریمه برخه

# د پوهاند حبیبي د آثارو نمونې

### یادونه:

استاد په رزهاؤ پارچې شعرونه، ادبي نثرونه، افسانې او ادبي لیکني را منځ ته کړي ، خو زه دا اثر داسي وخت لیکم چي هم له هېواده نه لیري یم، هم د استاد له آثارو او د هیواد له کتابتونو څخه، نو ځکه نشم کولاي چي د استاد د آثارو یو داسي منتخب چي زما زړه یې غواړي تاسو ته وړاندي کړم. خو بیا هم د استاد هر اثر قیمتي دي او هره لیکنه یې ارځښتناکه.

په دې منتخب کي لومړی د استاد پښتو ادبي نثرونه او افسانې، بیا یې پښتو شعرونه، بیا دري ادبي نثرونه او افسانې او ور پسې دري شعرونه وړاندي کوم، هیله ده د استاد یاد پرې تازه شي، او تاسو خوند ترې واخلي.

# آسماني نغمې او لاهوتي سرودونه

چيري چه ښکلا يو جاويدان فن او ښکلي آرټ پيدا کوي:

ترنک بهيږي ترنک بهيږي غاړې تر غاړې
زما زړګي خو خپل لالی غواړي

د پښتونخوا په زړه کي چېري د غزني له مجلله ښاره د زابل او بست پر خوا کاروانونه روان وو د لويي لاري تر څنګ ترنک بهيږي!

هو! ترنک بهيږي، مګر ډېر مرام بهيږي! پر دواړو خواؤ يې د غنمو ښنه ګڼبتونه او ارتي مځکي په زرغونو شالو ښکلي شوي ښکاري! لوي دښتونه، هسک غرونه، جګ، جګ بوټې او لوړي، لوړي غونډۍ د بادامو په ونو پټې دي، او کله کله له دې شاخساره د بلبلانو خواږه بړغونه هم اوريدل کيږي. د ونو له بيخو څخه د رڼو او زلالو اوبو چينې راوزي، په غرمبا بهيږي آبشارونه سازوي او په فضا کي په زړه پوري د جاويدان موسيقي انګازي خپروي.

په دې مځکو کي يو وخت د بابا هوتک د شعر خواږه آوازونه اوريدل کيده. دلته د توخو د درنې کورنۍ غښتلو حکمرانانو د عدالت او امن بساط غوړولي و او هم له دې کورنۍ څخه ميرمن نازو د حاجي ميرويس خان مور را ووته، چي په خپله غيږ کي يې داسي پښتون او آزاديخواه مېړه وروزه! دلته د کلات پر لوړه غونډۍ شيخ متي خليل ښخ دئ، چي د پېښور له درنو او پياوړو خليلو څخه دلته راغلي ؤ او د ترنک پر غاړه به يې له لاهوتي ارغنونه خواږه او په زړه پوري سرودونه پښتنو ته اورول او د خداي د ميني سندري به يې د خپل جاويدان او سوځند عشق په کيف او حال کي بړغولې.

شيخ متي د پښتنو هغه خدايي شاعر دئ، چي د جمال او ښکلا اسرار د شعر په ژبه څرګندوي، دی نړۍ ته په داسي نظر ګوري، چي د پخو عارفانو او لاهوتي رجالو په څېر هر څه ښکليويني او کوم وخت چي د ترنک پر غاړه ناست وي شاو او خوا لوړي ژوري ګڼبته پورته، غرونه رودونه، دښتونه او ميرې ټول د يوه ابدي او ځلاند جمال په وړانګو کي غرق ګڼي، دی ښکلا ويني، ښکلا اروي، ښکلا حس کوي، د ښکلا تجليات پر کائناتو طاري او ساري ګوري او کله چي شپون د يوې شنې او زرغونې غوندۍ په لمن کي خپله شپېلۍ بړغوي يا يو مين زلمي په زهير بړغ د ميني سندري لولي نو شيخ متي په دې ټولو کي د حسن هغه مبدأ ته انتقال کوي، چي د جمال سرچينه ده او هر آرټ او بديع صنعت هم له دغي ښکلا څخه رڼا اخلي او تحقق مومي.

وائي چې شعر د ښکلا احساس او د جمال ترجماني ده، مګر هر شاعر بايد سترګور وي، د ښکلا د آثارو په ليدلو او تشخيص کي ځير وي، دی بايد د هر ښکلي او جميل په ټاکلو او تماشا کي د نظر دقت ولري او

په دې کارکي د خاص لياقت خاوند وي، دا جمالي احساس او ښکليز استعداد عام او د هر چا په برخه نه وي، فقط د ميني مستان او د ښکلا ليوالان غواړي چي دلته څه ووينې، څه واروي، او څه تماشا کړلي شي، بلخي جلال الدين همدا مقام په څه مستۍ او جمالي لياقت بيانوي:

باده در جوشش گدای جوش ماست — چرخ در گردش اسیر هوش ماست
باده از ما مست شد، نی ما ازو — قالب از ما هست شد نی ما ازو
بر سماع راست هر تن چیر نیست — طعمهٔ هر مرغکي انجیر نیست
نور او در یمن و یسر و تحت و فوق — بر سرو بر گردنم چون تاج و طوق
آئینه کز رنگ آلایش جداست — پر شعاع نور خورشید خداست
رو تو زنگار از رخ او پاک کن — بعد ازآن نور را ادراک کن
(مثنوي مولوي)

شيخ متي د کلات په ښکلي وادي کي د گلانو زرغون توب د بيديا جمال او د ترنک سېلاب او د طبيعت ښکلي مظاهر گوري، او د جمالي شعر صنعت داسي ايجادوي:

جنډي زرغون که په بيديا دي — د بربڼ خوا ته په ژړا دي
ترنک چي خړ دئ په ژړا دئ — دا ټول اغيز د ميني ستا دئ
توله ښکلل دي ستا له لاسه — اې د پاسوالو پاسه!

د پسرلي په مسيحايي نفس، وچ غرونه زرغونيږي، نسيم سحري د ژوندانه نوي موجونه پيدا کوي، د لمر او سپوږمۍ جمال کمال ته رسيږي، دا ښکلي مناظر د يوه عاري انسان په نظر کي کوم اهميت نه لري، د عوامو سترگي د دې دستگاه ښېگڼې او ښهانې نشي درک کولای، يو عادي سړي چي واښکي او لور را واخلي او زرغونه واښه او ښکلي گلان د خپلي غوا له پاره ريبي، هغه نه ښکلا ويني او نه د پسرلي د وږمو عطر حس کوي، مگر چېري چي ښکلا وي او د ښکلا ليدونکي ځېرې سترگي وي، هلته داسي يو جاويدان آرټ تخليق کيږي:

که لمر روښانه مخ يې سپين دئ — يا د سپوږميه تندي ورين دئ
که غر دئ ښکلي پرتمين دئ — لکه هنداره مخ د سين دئ
ستا د ښکلا دا پلوشه ده!
دا يې يوه سپکه ننداره ده!
دلته لوي غرونه زرغونيږي — د ژوند وږمې پکي چليږي
بوراوي شا او خوا کړيږي — سترگي ليدو ته يې هينښيږي
لويه خاونده! ټوله ته يې!
تل د نړۍ په ښکليده يې!

ښکلا يو زيږنده او جاويدان مبدأ فياض لري د زمان و مکان په مسير کي لکه د برېښنا ګرځېدونکي او تېرېدونکي څپې، د ښکلا تجليات ګرځي را ګرځي او خپل کمال ښيي، دا جمالي او تجلياتي سير او دوران، د نړۍ پر مخ يوه تماشا جوړوي او هم دغه ننداره دي چي د عارف شاعر سترګي ورته ارياني وي او ابن فارض مصري عارف نارې وهي چي: ''زدني بفرط الحب فيک تحيراً'' او شيخ متي دا رڼا او ښکلا او تماشا د شعر په ژبه داسي څرګندوي:

خاونده! ښکلي ستا جمال دئ　　ښکاره يې لور په لور کمال دئ
که ورځ، که شپه که پېړۍ کال دئ　　ستا د قدرت کمکي مثال دئ
ستا د لورونو يوه رڼا ده
دلته چي جوړه تماشا ده!

ښکلا په خپله يوه لايتناهي او بې پايه حادثه ده، څوک چه نه ورته ګوري، د هغو پر سترګو تپه تياره ده، دوئ جمال نه پېژني، ننداره نه ويني او له دې خوځونکي تماشا څخه محروم وي مګر د عارف سترګي درنې هنداري په دود هر څه په خپل زړه کي تصور کوي او داسي حساسي وي چه په هر شي کي جمال ويني او په شاعرانه تعبير يې هر شي د ښکلا ځد وي، دی دغه لاهوتي او سماوي جمال ته چي بل هيڅ جمال ته ورته نه دئ ځير کېږي، خو دلته هغه په خپله نوع کي واحد وي او بل مثال او څېر نه لري:

جمالک لا يقس الي جمال　　و قدرک جل عن درک المثال

دلته نو د ده سترګي داسي جمال سنجي شي، چي بلاخره هيڅ شي بد نه ويني او وايي:

از بسکه دو ديده در خيالت دارم　　در هر چه نگه کنم، تويی! پندارم

شيخ متي هم د عشق شپيلکي له غرو څخه اروي، هر شي که ووړ وي که غټ د ده په نظر کي د جمال ځري دي، د نړۍ سمي په مينه کي ګڼي او په دغو ننداروکي داسي د کلماتو او وينا ښکلا پيدا کوي:

په غروکي ستا د عشق شپيلکي دي　　د دې نړۍ په عشق سمي دي
که غټ که ووړ، که پنډ، نري دی　　ستا د جمال ځري هر شي دی
چي پر دنيا مي سترګي پرې سوې
ستا د جمال په ننداري سوې

د ښکلا په دې ننداږتون کي شيخ متي د پخو عارفانو په څېر په تماشا لګيا دئ، د تجلياتو په رڼا کي محو دئ، مست دئ، شيدا دئ، او د ميني څپو لاهو کړي دئ، خو دې او حال پاي يوه دايمي ژړا او حزين فرياد دئ، کله چي دی د خپل مبدأ په ياد کي لوېږي او له هغه جمالي فياض منبع بېلتون حس کوي نو د هر مهجور پر حال ژاړي او د هر غمجن په غاړه ور سره ږغېږي:

بېلتانه په غم شريک کړم د غمجنو　　د هر چا په غاړه ژاړم لکه ني

د بلخ او قونيې قلندر دغه بېلتون ليدلي و چي ويل به يې:

نی حدیث راه پر خون میکند　　　قصه هاي عشق مجنون میکند
هر که او از هم زباني شد جدا　　　بینوا شد گرچه دارد صد نوا

اوس نو وګوري چي د ترنک د غاړو سترګور او دردمن عارف شیخ متي په دې مقام کي څنګه په ژړا ژاړي او د تماشا او ښکلا او نندارو سره سره د حسرت او ارمان په سوز او ګداز کي بیا نفیس ادب او وینا او کلام آرټ تخلیق کوي او د خپلي پردیسۍ یاد هم کوي:

زه چه څرګند پر دې دنیا سوم　　　د ښکلي مخ په تماشا سوم
ستا پر جمال باندي شیدا سوم　　　له خپلي ستې را جدا سوم
په ژړا ژاړم چي بېلتون دئ
یمه پردېسي بل مي تون دئ

دا تون چېري ؤ او څنګه ؤ؟

د دې دلنواز داستان شرح هم د بلخ د آکاه او خداشناس دروېش له خولې واروئ:

چونکه هر جزوی بجوید ارتفاق　　　چون بود جان غریب اندر فراق
گوید ای اجزای پست و فرشیم　　　غربت من تلخ تر، من عرشیم
میل تن در سبزه و آب روان　　　زان بود که اصل او آمد ازان
میل جان اندر حیات و روحی است　　　زانکه جان لامکان اصل وی است

شیخ متي خو د جمال په نندارو مست ښکاري دغه لیدنه او کتنه دی د ښکال د لایزال او فیاض مبدأ په یاد کي ژړوي هم، دی خپل بېلتون حس کوي او خپله پردېسي یې ژړوي او هره ناره چي د غرو له شپېلیو اروي هغه د یوه عرشي اما غربت وهلي او پردیس روح نارې سوري ګڼي او وائي:

په لویو غرو هم په دښتوکي　　　په لوي سهار په نیمو شپوکي
په غاړه ږغ او په شپیلکوکي　　　یا د ویرژلو په شپیلوکي
ټول ستا د یاد نارې سوري دئ
دا ستا د میني ننداري دئ

د نړۍ پردې سپېره ډګر غارف او د زړه خانوند تل دغه خوند او ننداري او تماشاوي لري او هم د دغي ښکلا په مینه ښکلي ادب او نفیس ارټ ایجادېږي خو ظاهر بیني سترګي دا کیف او حال نشي لیدلاي او بېچاره شاعر تل د حق او ښکلا څرګندولو په مجادله کي ګرم ګڼي نو د آرټ او صنعت دغه خلالق مزاج او د ښکلا او جمال د ځیرو او روښانو سرګو خاوند به تل د خپل زړه درد او سوي داسي ښکاره کوي چي:

در عشق تو از ملامت بیخبران　　　در جان و جگر خدنگها دارم من

# پر ادبي ستوري سريزه

اوښکي تويي سوې د گل بلبل ناري کړې
چي مي بړغ سهار وختي په گلستان کړ

نه پوهېږم چه دا بيت کله او چا ويلي دئ؟

زما دوني په ياد دي چي د ١٣٠٥ش کال په پسرلي، د قندهار يوه خوش ذوقه صوفي[1] دا بيت لوست او ښايي چه د پير محمد کاکړ وي.

زه خبر نه وم چي د دې بيت رمزي ژبه څه وائي؟ او د انسان د ژوندانه کوم پلو روښانه کوي؟

مگر اوس چي د عمر پنځوس کاله په يوه ټاکلي تگ لاره را باندي تير سوي دي او زموږ د تېر زيار او کړاو اغېزې په خپلو سترگو وينو، نو دا منو، چي د شاعر سهارنۍ نارې به هرومرو دومره اغېزه کوله، چي د گل له سترگو يو څورنې د پرخي اوښکي راتويې کړي، يا د بلبل له ستوني يوه خوږه ناره را وباسي!

مگر تاسي دا مه هېروي چي دا اوښکي او سوي نارې تل د گلستان ښکلا زياتوي او که څوک گلستان ته ورځي، نو هم د دې ښکلا له پاره ورځي او د گل اوښکي، د بلبل د سوز و گداز بړغونه د دې گلستان د ښکلا پانگه ده.

د ١٣٢٠ش کال پسرلي ؤ، چي زه له قندهاره کابل ته را وغوښته سوم او د پښتو ټولني کاروبار را وسپارل سو، خلکو به ويل پښتو يو ناروزلې او شړله ژبه ده، ادب نه لري، کتاب نه لري، شعر نه لري، هېڅ نه لري. زه چي د پښتو ټولني د مشرتابه پر چوکۍ کښېنستم نو مي اول کار دا ؤ، چي د پښتو ادب پخواني اصالت خلکو ته وښيم او د پښتو شاعرانو ورک آثار سره را ټول کم.

هغه و چي د پښتنانه شعراء په لومړي ټوک کي مي د پښتو د ١٠٠ تنو پخوانو شاعرانو آثار سره را ټول کړل، چي د ١٣٢٠ ش کال په پاي کي په ٤٠٠ مخه کي چاپ سول.

هغه وخت زما او زما د ښاغلو ملگرو کار نوي ؤ، خو ښاغلو خادم، رښتين، سيفي، بينوا، الفت، جرار، نوري (خداي دې وبخښي) په هغه کار کي زما سره ډېر کومکونه وکړل او هغه وخت بل څوک په داسي کارو نه پوهېدل او په پښتو کي قلم چلول فقط د دغو څو تنو په برخه ؤ.

---

١. ملا امير محمد اخوند يو جگ هيبت من سپين بږيري صوفي ؤ چه د مولانا بلخي مثنوي يې ټول په ياد ؤ او هغه به يې په ارمان د ژړا او اوښکو سره لوست، دا د ٥٠ کالو دمخه خبره ده چي زما د ځوانۍ لومړی پسرلی ؤ، خداي دي هغه وبخښي يو خدايي د سوز و گداز خاوند صوفي ؤ (ح).

په دې نړۍ کې تر دې شينکي آسمان را لاندې دا قانون په ټينګه جاري دئ، چه هر کړن يوه نتيجه لري او هر بږغ يوه ازانګه، مولانا بلخي څه ښه ويلي دي:

اين جهان کوهست فعل ما صدا          اين صداها باز ګردد سوي ما

د پښتو په لاره کې د هغو لومړنيو هڅو نتيجه دا سوه، چې وروسته په لره او بره پښتونخوا کې ډېر نور ليکوال او څېړونکي را ووتل او د پښتو ''پټې خزانې'' سره نوري ورکې خزانې هم وموندلې سوې. تير هېر شاعران وپېژندل سوه، د همېش خليل او سيال کاکړ غوندي نور ملګري هم پيدا سول چې د ښښتو د زاړه ادب د پلټنې او ګرديږنې پټې بې پر اوږو واخيست او موږ اوس ګورو ګي په هغه تش ډګر کې شکر دي ډېر وينښ او تکړه ليکوال ولاړ دي او د پښتو له غره څخه خوږې ازانګي ببرته زموږ غوږو ته را رسيږي.

ښاغلي رفيع زموږ د پښتو څېړني يو تکړه او ښاغلي ملګري دي، چې د پښتو ادب او فرهنګ په ټولنه کې يې زيار ايستلي او څو کتابونه يې کښلي او چاپ شوي دي.

د ده دغه ''ادبي ستوري'' د پښتو شاعرانو په پېژندنه او د دوي د ورکو آثارو په را برسېرونه کې يو بل ګټور کتاب دئ، چې د تېر و څېړنو ځني پاتي برخي بشپړوي او کله کله ځيني نوي نوي خبري هم کوي.

زه ډېر خوښ يم، چې زموږ د کار په بشپړونه کې د پښتونخوا زلمو له قندهاره تر اټکه له دې ځايه تر پېښوره او کوټې پوري ګردو په مشترک زيار لاسونه سره يو کړي دي او داسي کتابونه ليکي چې په پاي کي به ګرده د پښتو ادب د پشپړ تاريخ په ټولنه او ليکنه کي د ښښتنو په کار ورسي.

زه د ټولو ښاغلو څېړونکو او ليکوالو دغي هڅي ته په درنه سترګه ګورم او خوښ يم چې زموږ هغه د ''سهار وختي بږغ'' په دې ''ګلستان'' کي داسي بلبلان را وپاځول، چي اوس د دوي بږغ موږ اروو او ښه را باندي لګيږي او له خدايه غواړو چې د خوشحال خان د دې هيلې سره سم:

هميشه به پرې نارې وي د بلبلو          دا چې ساز کړ نن خوشحال په ويل با غ

د ''پښتو با غ'' هم تل د زلمو په نوو څېړنو او پلټنو سمسور وي!

پوهاند عبدالحي حبيبي کابل، جمال مينه

د وري ۲۵ کال ۱۳۵۳ش

# تورپیکۍ

(دا یوه ډرامه غوندي ده چي د افغانستان د خپلواکۍ د جګړې یوه وړه صحنه تمثیلوي)

د واده درېمه شپه

تقریباً اتلس کاله دمخه یوه شپه چي د پسرلي د آخرینو ګلو بویونه د ریګ د تالو څخه پورته کېده او سپوږمۍ ځلیده د کندهار د سپین بولدک په یوه کلي کي چي وېش ته نژدې ؤ د ریدي خان، چه یو زلمي اڅکزي ؤ، د واده دریمه شپه وه. تورپیکۍ یوه زیبا او مړوچه پښتنه نجلۍ چي د دواده پسول په پورې او ساده کالي یې اغوستي وو، ناوې وه چي سپوږمۍ یې په حسن شرموله، ریدي خان هم یو پښتون ګلالی شل کلنې زلمي ؤ. د ګږدۍ پر اړخ تر ځلاندي سپوږمۍ لاندي د تورپیکۍ سره ناست او د عشق او محبت په ویناؤ بوخت ؤ، که چا په هغه شپه دا دوه زړو ته سره تېر یو ځاي سره لیدلي واي نو ویل به یې چي لمر او سپوږمۍ سره یو ځاي سوي دي.

د واده دریمه شپه او د وصال لا لومړي ټاپي ؤ...

ریدي خان پنځه کاله پردېسي ګلولې وه بېرته خپلو کږدیو ته راغلي او نوي واده یې کړي ؤ، خوږې شپې او ورځي وې.

د استقلال د غزا کال

دا کال چي د ریدي خان د واده شپې پکښي وې هغه کال ؤ چي پښتنو د خپل استقلال د ګټې دپاره سر پر میدان ایښي ؤ، په ټوله وطن کي د جهاد او غزا ډندوره ګرزېدلي وه، د واده په درېیمه شپه چي ریدي خان د خپلي محبوبې (تور پېکۍ) سره د خپلي ګږدۍ اړخ ته په خوږو مرکو بوخت ؤ، نا ببره د ده سپین ږیري پلار (زمری خان) پر را ږغ کړه: "ریدیه!... ریدیه زویه!... (په رېږدلي آواز) اوس کلي ته خبر راغي چي سبا سهار پرنګي پر سپین بولدک راځي!... او هلته هم فقط دوه درې سوه تنه سپاهیان سته نور هېڅ نسته...

زویه! کلي ټوله بار سو!، زلمي جنګ له تیار سوه، اوس به ژر ځې چه تر سهار سپین بولدک ته د خپلو وروڼو کومک ته ورسیږې!...

زویه! زویه ریدیه! دا دي د ننګ وخت، دا دي د توري وخت، دا دي هغه وخت چي ما په دې اویا کاله عمر کي غوښت. غزا ده، شکر خدایه!

سبا پر سپین بولدک غزا ده
تر خداي مي جار کې پښتانه غزا له ځینه!

## د جنګ تیاري

ریدي خان زلمي چي د بابا دا وینا واوریده، د پښتونوليویني یې په غورځنګ سوي... را ولاړ سو، پلار ته یې وویل:

"بابا... ما پرون لا اروېدلي وه چي غلیم د پښتنو سره د جنګ خیال لري، نن سهار ما توري تېري کړې، توپک مي پاک کئ، ته سپین ږیري یې... مور مي بوډۍ ده... ته به دلې د مور او تورپېکۍ سره پاتېږې!

زه! هوکې! زه چه پښتون زلمي یم، څم به... د پښتونوالي ننګ به پر ځای کوم... (په ډېر افسوس) تاسي او تورپیکۍ په خدای سپارم!..."

په دې وخت کي یې خپلي ناوي محبوبې ته داسي وکتل لکه آخري دیدن چي وي...

زلمي ولاړ توري تر ملا ده

غزا له ځي پر خپل وطن سر ورکوینه

تورپیکۍ چه د ریدي خان دا وینا واروېدله، بي اختیاره یې وویل:

پر سپین میدان به در سره یم

زه پښتنه له توري نه ترپلم مینه

## د جنګ میدان ته کوچ

سپین ږیري بابا زمري خان چي د خپل زوي دا خبري واورېدلي... په خورا قهر یې وویل:

"زویه! زه پښتون یم!... زما د میوند جنګ ارمان لا په زړه کي دي!

هوکې... زه سپین ږیري یم، سترګي مي لیده نه کوي، پر ملا کړپ یم... لاس مي رېږدي... مګر آیا سپین ږیرتوب نو زما څخه پښتونوالي ورکولي سي؟ ... آیا زه نو پاته سم؟

نعوذبالله غزا به وي، د ننګ او ناموس وخت به وي، پر وطن به پردي حملې کوي (د سترګو یې روښي اوښکي توئېږي). په داسي حال کي به کوم پښتون پاتېږي؟ یه، یه، زویه!... یه زه کورټ نه پاتېږم..."

په دې وخت کي د ریدي خان بوډۍ مور زرغونه ادې چي سپیني پېچې یې پر مخ ښکارېږي راغله زوي ته یې ووې:

"ریدیه! زویه! ستا خیال دي چي یوازي ته زلمي یې، زورور یې! هاي، په ځان مغروره!... ته به د جنګ پر میدان توره وهې، زه به پاتېږم؟"

را تیره سوه، ریدي یې پر تندي مچ کي، وې ویل:

"زویه! ټوله به یو ځای سره ځو چي ځانونه تر وطن قربان کو! غلیم به تر وېش را اوړي، پښتانه به کور ناست وي؟ یه! یه! دا ممکنه نه ده... که نور څه نه وي یو وار خو به دا منګولي (لاس پورته کوي) د غلیم په وینو سرې کم!:"

تېوله به ځو د جنګ میدان له

نه چي پېغور کوم غلیم راپاته سینه

تر دې وروسته بابا، ادې، ریدي او تور پیکۍ په ګده مخ پر سپین بولدک را رهي سوه، ټوپک ریدي واخیست، یوه توره بابا واخیسته بله توره تورپیکۍ په سپینه غاړه کي امیل کړه، زرغونې ادې یو سوټې او د اوبو ژي را واخیست ځي... چېري؟ د استقلال... د ناموس... د ننګ... د مېړاني... د همت او د پښتونوالي میدان ته...

## د ننګیالو احساسات

د ننګیالو پښتنو کهول ټوله غزا ته رهي سو... پر لاري ځي زمري خان بابا وائي!

" دا شپیته کاله تېر سو، هغه وخت چي زه ځلمي وم، ما د میوند پر میدان په غلیم زړه سوړ کړي ؤ خدایه! هغه څوک چي ستا د رضا دپاره ژوندون کوي، مرګ به یې هم ستا دپاره وي؟ پښتانه خپله ننګه پر ځاي کوي، په تلتک کي مرګ د ځان عار ګڼي، دا دي پر ناموس ټینګ پښتون بیا راغئ چي د وطن پر وېش په خپل سربازۍ وکي، خاونده!... زه خو بله آرزو نه لرم چي پر آخر د عمر ځان د جهاد پر لار قرباني کم!... زه به ژوندي یم... غلیم به مي پر کور را اوړي؟ دا هیڅ نه سم منلاي..."

ریدي خان چي د بابا وینا واورېده په خورا خواږه آواز یې دا لنډۍ نارې کړه:

د پښتنو ځلمیو وار دئ

په خپل وطن به توریالي مړونه مرینه

تور پیکۍ چه د واده په پسول او کالو کي وه، د واده په نکریځو سور لاس یې پورته کئ او دا ناره یې وکړه:

تر توریالي مین به جار سم

چي د غلیم په وینو سره کاندي لاسونه

زرغونې ادې چي دا د ننګ ویناوي واروېدلې په رېږدولي بږغ یې ناره کړه:

تورې به نه کړي نو به څه کړي

چه مو شیدې د پښتنې رودلي دینه

حق به هېڅکله در پل نه کم

څو د غلیم په وینو سره کاندئ لاسونه

## د فدا کاري صحنه

د ننګیالو پښتنو کهول لا پر لاري ؤ چي سپېدې وچاودې، سهار سو، پر یوه ناور ټولو اودسونه تازه کړه، تر لمانځه نه وروسته زمري خان بابا توره له تېکي را وکښه په ښښتني جوش یې وویل:

''خدایه! دا توره ما ستاد د رضا او پښتنوالي او ننګ و ناموس د ساتني دپاره را کښلې ده. زه ځان او خپل ګران زوي او د سترګو توره تورپیکۍ او خپله پښتنه ملګرې زرغونه پر تا سپارم!''

دا یې وویل، د لمر لومړیو وړانګو د ده توره وبرېښوله، مخ پر نوي کلا راغلل، هر څومرې چي را نژدې کېږي، ګرز او غبار، د توپو ډزهار، د توپکو ټکهار، د طیارو غړومبهار ډېرېږي او داسي ښکاري چي د سپین بولدک پر کلا د محشر ورځ ده ننګیالو پښتنو چي دا حال ولید ځانونه یې چمتو کړه، د سپین بږیري بابا د پښتنوالي احساسات مشتعل شوه، ناره یې کړه:

''دا کلا... دا مځکه... دا خاوره... دا وطن... دا زموږ د پلار او نیکه هدیره...

مګر خاوند نه لري؟

خدایه! پښتانه ژوندي دي که مړه؟

بیا پر دې خاوره د غلیم قدمونه اېښود کېږي؟...

ها! د میوند زمرو! ... څه سواست؟ ...

ها! د احمد شاه بابا او اکبر غازي اولاده! ... چېري یاست؟

ها! پښتو او پښتونوالي!...

ها! د یارک او اڅک زامنو!...

د ننګ او ناموس وخت دئ...''

پر سپینه بږیره یې روڼې اوښکي بهېږي، آخره پلا خپل ګران ګلالي زوي ریدي په بغل کي نیسي، پر تندي یې مچوي وایي:

''خدایه!... دا زوي خو ما خاص د دغي ورځي دپاره لوی کړي ؤ، دا دي ستا د رضا او د وطن دپاره یې قرباني کوم! ...''

(تر دې وروسته تور پیکۍ هم پر سپین بارخو باندي مچوي، ورته وایي:)

''جنکۍ، د سترګو توري! د پښتنه مېرمني تل پر خپل ننګ و ناموس تر سر تېرېږي، له خدایه غواړم چي ته هم یوه توریالۍ پښتنه سې او د وطن انتقام له غلیم څخه واخلې!''

پښتانه به خپل هوډ پرېږدي له لاسه
که یې سر شي د خوني زمري تر زامه
که دي نقش د توري کښېني راته غوږ کړه
کامروا به شي هاله له هره کامه

ریدي خان چي هم وخت اخیر ولید خپله ګرانه او د زړه سر محبوبه یې په بغل کي ونیوه، آخرنۍ وداع یې ورستره وکړه، دا منظره دومره دلچسپه وه تا به ویل یو اهل جنت د حوري سره مینه کوي...

وروسته نو دواړو د زرغونې ادې لاسونه ور مچ کړه او حق پلیت یې ځیني واخیست.

توري له تېكي څخه وبرېښېدلې، توله په ګډه د فدا کارئ میدان ته راغلل، مردک لکه ډلئ داسي اوري، فضا له ډېره ګرزه تيار ده، که زمري وي هم به يې دلته زړه ورپړدي مګر زموږ ننګيالي پښتانه يو تر بل دمخه کېږي، تورپېکئ خو ځان د ريدي خان مخ ته ور اچوي چه که مردک راشي پر دې به ونښلي او له ده څخه به چپ سي، پوځ ځاښت دي، د کلا دننه غازيان ټوله د غليم په طيارو، ټوپکو او توپو شهيدان سوي دي فقط څو تنه ننګيالي پښتانه پاته دي چي کارتوس هم نه لري، هغو سلا سره وکړه چي له کلاه خڅه دباندي پر دښمن ور ووزي او لاس په لستوڼي جنګ ورسره وکي، ټوپکونه يې وغورځول، توري بې واخيستې، د کلا تر دروازه را ووتل لکه زمري د دښمن په لښکر چي کلا ته نژدې راغلي وو، کډ سوه، زموږ ننګيالو پښتنو کهول هم په دې وخت کي را ورسيد، سپين ږيري بابا خو د څو تنو سرونه په توره غوڅ کړه، شهيدي سو او خپل لوړ مقصد ته ورسېد!...

پښتنې زرغونې ادې چي دا حال وليدل، د هغه په توره بې د ده قاتل وواهه پښې يې ور پرې کړې، دا هم سخته زخمي سوه، ولوېده... ها بلي خوا ته ريدي خان د زمري په څېر د دښمن سره چنګاو دي، څو تنه يې مړه کړه، د ده ګرانه محبوبه هم توري وهي، سپين مړوندونه بې د غليم په وينو رنګ دي پر سره ميدان باندي د وينو په سيلاب کي لکه ځوان مېړه داسي جنګېږي:

پښتنو ځلميو بيا لاسونه سره کړه
لکه باز منګولي سرې کاندي په ښکار
سپيني توري يې ګلګونه کړې په وينو
په اهاړ کي شګفته شو لاله زار

تر دې منځ تورپېکئ پر خپل ګران مين باندي ناره وکړه:

تر دې تېرې توري دي حار سم
د غليم ويني بيوه ګرانه مينه!
په وينو رنګ توره دي راوړه
راسه په سرو شونډو يې زه در پاکومه

## دوه مين د وطن شهيدان

تر دې منځ له لري يوه ګولئ راغله د ريدي خان پر زړه ونښته په سرو وينو کي رنګ ولوېد، روح يې جنت ته ولاړ، شهيد شو، تور پېکئ زموږ توريالئ پښتنه يوازي پاته شوه، دې چي خپل ګران مين په وينو کي لژند وليد، د حزين زړه څخه يې داسي فرياد را وخوت:

جانان مي سر پر وطن کښېښود
په تار د زلفو به کفن ورته ګنډمه

تر دې نارې وروسته يې توره کش کړه، لکه زمرئ په عليم ورګډه سوه، ډېر يې سره ژوبل کړه، په پاي کي يې سخت پرهر واخيست، سرو وينو يې سپين باړخوګان رنګين کړه تا به ويل چي له جنت څخه ملکو سره خالونه د دې د زينت له پاره راوړه، راغله ځان بې تر خپل مين پوري را ورساوه، پر ولويد روح يې جنت ته والووت...

بله ورځ چي شهيدان ښخېده، دا دوه دلباختګان چي د واده کالي بې لا آغوستي وو يو ځاي سره ښخ او په ابدي خوب ويده سوه، جنګ چي ختم سو د تور پېکئ مور د خپلي توريالئ پښتنې لور زيارت ته راغله، سور بېرغ يې پر قبر ور وځړاوه چي تله نو يې وويل:

"تورپيکئ! د وطن نازنيني توريالئ شهيدي! ما خو هم ته د دې دپاره لويولې، ستا سرې ګلګوني ويني يوازي زما نه، بلکه د دې خاوري سورمخي ده، تا د وطن دپاره سر بايلود، نو د جنت په سرو ګلونو کي د خپل شهيد مين ريدي خان سره لاس تر غاړه په ابدي ژوند خوښه ګرځه!

دا دي زه ستا مزار د پښتنو په ابدي افتخار پر دې سرحد باندي جوړوم او سور بيرغ چي ستا د واده د سرو لاسو او بيا د شهادت د سرو پرهارو نخښه ده باندي ځړوم چي د پښتنو د آئنده نسل دپاره د غيرت او ننګ سر مشق وي، په جنت کي ابدي ژوندئ اوسه! زما توريالئ پښتنې لوري!"

# د خوشحال روح ته خطاب

د پښتون بهار له تاؤ — اې مېړه نره سرداره
تا پښتو ده ژوندي کړې — له خټک تر کندهاره
پښتانه دي يادونيه — ننګيالی ښاغلي پلاره!
چي پر مرګ دي هېره نه وه — د پښتو د ننګې لاره

تا ويل: پس له مرګه هله تاسي ښخ کئ مړ خوشحال
د مغولو د پښو ګرز يې، چېري نکي بيا پائمال

نه بې مړ ته خو ژوندي يې — اې اديبه ننګلاليه!
دا ښه نوم دي دايمي دئ — په ابد ژوندون ژونديه!
ته زموږ ملي پېشوا يې — د پښتو پلار توریالیه!
پښتنواله دي ژوندئ کړه — د پښتو لوي برياليه!

تا و موږ ته وښودله، د پښتو دا سمه لاره
ستا په توره به نازېږو، د پښتو پښتونه پلاره

د پښتون ببړي چپه وه — د غزني دوران ؤ تللي
د غوري لويي وه ورکه — د سوري قام ؤ نتلي
د لودين جنډئ نسکوره — قطب الدين په زړه داغلي
د مغولو طالع لوړ ؤ — د اورنګ وغ پېدلي

يو څو ستا د سوز نارې وې، چي پښتون يې را ولاړ کئ
که نه ژر وو چي خپل کور يې، د مغل په لاس ويجاړ کئ

ستا نغمه وه څه دلسوزه — څه توده له خونده ډکه
د غوري، سوري افکار وو — خپروله دي پر ځمکه
د خپل دور فلاطون وې — تا مني هر سړي ځکه
کندهار تر ننګرهاره — له مهمندو تر خټکه

پښتنو ته تا ورکړې، په ښه شان درس د حيات دئ
ستا ميراث و دوي ته غزم، ننګه توره او ثبات دئ

زمانه ده بدله شوې — شلم قرن څه بيباک دئ
د ضعيف غوښي قوي خوري — چه غښتلي دي سفاک دئ
تمدن په وينو سور دئ — د هغه چاچي يې واک دئ

د شلمي پېړۍ دود دئ　　چي ضعيف باندي تاړاک دئ
په دې عصر د جنجال کي، ستا سبق مورړ ته کافي دئ
ستا د توري تورى پاته، زمورړ هر رنځ لره شافي دئ
سر را پورته که سرداره　　شلم قرن تماشې دي
شا و خوا پر گردۍ مځکه　　د ملت، نښښن نارې دي
ذرې وصل دي و لمر ته　　څه عجبې ننداري دي
ستا د برغ هم ښکته پورته　　په دې غرو کي برغبرغې دي
ستا خو برغ ؤ پښتنو ته، د پښتون نجيب ملت ته
قبايل ورک کئ له منځه، ځان کړئ وصل مليت ته

# سپوږمۍ

(دا نظم يې د لاهور په يوه بڼ کي د شپې له مخي د پردېسۍ په حال کي ويلي دئ)

د آسمان سپيني سپوږميه!　　مخ دې روڼ، تندي دي ورين دئ
شا و خوا دي پلوشې ځي　　په رڼا دي تور بڼ سپين دئ
د ويرجنو خواله گري　　راسه زړه مي ډېر غمگين دئ
واشه زما گراني پی مخي!
چي يو دم د زړه خواله کړو
سره کښېنو لاس تر غاړه
خوا په خوا سره پاله کړو
ښکلي پېغلي مه شرمېږه　　پټ دي ولي تر غره مخ کئ
ته يې زما د زړه ملگرې　　تل به نورو پر مورړ رخ کئ
په کوچيني هم ته زما وې　　ما به تا ته تل اخ اخ کئ
چي کوچني وم ما بللې
ته ''الا کوکو'' سپوږمي[۲]

۲. د دې بند دوې نوري مسرې په منقول عنها نسخه کي نشته.

له هیواده لیري گرځم		زما په زړه پوري ملگرې!
د وطن بل څوک خو نسته		دلته یم یوازي لیرې
نه خواږه یاران خپلوان سته		نه د دوي خوږې خبري
یوه ته یې زما ملگرې!
را سره یې له هېواده
هم هورې یې هم دلې یې
خداي دي تل ولره ښاده
چه زۀ درومم ته هم درومې		چي زه ناست یم ناست هم ته یې!
په ځغستا راسره ځغلې		چي بیده یم ته بیده یې!
وفاداره ښکلی پېغله!		ته سپوږمۍ که پښتنه یې؟
ستا وفا د پښتنو ده
د آسمان پېغلي نجلي
په خوي ښکلې پښتنه یې
د غمجن مین شهۍ

# خپل زړه ته

زړه راځه چي سره مله سو		څه تپېږې یک تنها ته؟
زه تنها یمه مل غواړم		بوزه ما و پښتونخوا ته
راځه ځو به جگو غرو ته
د نسیم به خواله گر سو
له تېراهه به ور تېر سو
سیلاني به د سپین غر سو
راکه لاس چي سره ځونه		مخکښي اوږد او گران سفر دئ
د پردېسو مل سې خدانه!		دا سفر نه دئ سقر دئ!
زړه راځه چه ځو روان سو
د لیلي و ښکلي ښار ته

ته ځې؟ ما در سره بوزه!
د بيتړن نيکه مزار ته
ته خو ښه يې زړه! چې تلی سې		زه محروم يم له وطنه
بلبل پروت يم په قفص کې		ورک له باغه له چمنه
زړه! ورځه! خو يوسه اوښکې
ملغرې ارمغان زما
ښايي دا چې ياد به کړينه
زما دوستان په دې نښان زما
زړه ورځه الله دې مل سه!		د وطن زيارت له ورسه!
زما سجدې نيازونه يوسه		جبين ساپه هغه ورسه
که زه تلي نسمه ته ځه!
تندي ږده د ليلي در ته
زما اوښکې د زړه وينې
کړه تحفه د يار محضر ته
(لار مجله، پېښور ۱۹۵۷ لومړي کال ۳ گڼه)

# نثرهای گزیده

## (غوره نثرونه)

گل پاچا الفت از سرامد نویسندگان پشتو است، که تا کنون آثار گرانبهاي منظوم و مثنوي را در پښتو نوشته و نشر کرده است.

کتاب اخیر وی که بما رسیده "غوره نثرونه" یعنی نثرهای گزیده نام دارد و در ۱۱۸ صحفه از طرف پشتو ټولنه کابل ط بع و نشر گردیده است.

الفت نویسنده زبردست و سحرکاریست که بابداعت تخیل و نوشتهای لطیف خود، در صف اول نویسنگان پښتو قرار میگیرد و بمعنی صحیح کلمه "شاعر و فنان" است.

وقایع عادی زندگه و پیش آمدهای روزانه در نظر الفت هر یکی موضوع بدیع و لطیف شاعری و اظهار قریحهٔ فنی است، الفت مدرسه و پوهنتون نه دیده ولی بر کنار کشتهزارهای سبز و لطیف لغمان سفلی در کچ عزیزخان، جائیکه آبها خروشان دریای کابل در دامنه های کوهای سهمگین زمزمه های عشق و الفت می سرایند، در کنار خانوادهٔ نجیبی پرورش یافه و از درسگاه طبیعت چیزهائی را آموخته است که آنرا نمی توان در مدرسه فرا گرفت.

عمق نظر، درل دل، صحت تعبیر انتخاب کلمات دلاویز در نوشته های این بویسنده پدیدار است و هر قطعه نثر او از نظم بهتر است و نظم وی از نثر خوشتر!

ولی من اوج فنانی و قریحت تابناک او را در نثر میدانم، زیرا نظم را در پشتو سابقهٔ طولانی است ولی نثر نویسی را بمراتب نظم لطیف ساختن کار اوست، و ما در هر پارچهٔ نثر وی لطافت و دلاویزی را بکمال و تمام می بینیم.

الفت در مدرسه طبیعت درس خوانده و به آغوش تفکر در آفاق وانفس پرورده شده است، وی در زوایای زندگی و اجتماع فکر میکند، با عماق اسرار حیات آنقدر چیره میشود، که هر منظرهٔ عادی یا مفکوره ای پیش پاافتاده ای را چنان تصویر میکند که ازان برای اجتماع فوایدي متصور باشد و موضوع لطیف و دلچست شاعری و فنانی او گردد.

درینجا ما برای نمونه یک پارچهٔ نثر او را ترجمه میکنیم تا خوانندگان ما را بداعت تخیل و قدرت نویسندگی این فنان زبردست پشتون روشن گردد:

## اسیر بی گناه

برهانید! این اسیر بی گناه را رها کنید!

مترسید! در رهائی او هیچ خوف و خطری نیست!

اندک فساد و شرارتی ازو پیدا نخواهد شد،
بلکه اسارت او، عظیم گناه است،
این یوسفی است که از بی گناهی در زندان افتاده، اگر از زندان براید، میتواند آینده شما را بسنجد و غمِ روز بد شما را بخورد.
برهانید! این اسیر بی گناه را برهانید!
اگر وی رها شود، انتظام امور شما را بوجه بهتری کرده می تواند.
گرسنگان شما را سیر و برهنگان شما را تن به جامه خواهد پوشانید!
پس این موجود زیبا را در اعماق سیاه چالهای تاریک نیندازید!
درون زندانهاش میفگنید!
بخورد گرگان و جانورانش مدهید!
برهانید! این زندانی بی گناه را!
وی خوابهای پریشان شما را تعبیر صحیح خواهد کرد!
عقده های مشکلات و مبهمات شما را خواهد کشود، وی پیش بینی اوضاع آئنده شما را کرده می تواند. به رموز و اسرر طبیعت نیک آگاه است.
مقتضیات اوضاع جوی و فلکی را بخوبی سنجیده می تواند.
برهانید! این زندانی بی گناه را!
بارهایی وی دانش و بینش فراوان میگردد، کشور روشن می شود و کوران بینا می شوند، وی با برادران ستمگر خویش نیز رفتار خونی خواهد کرد، وی بسا کژرویها را راست میسازد.
بسا راههای کژ را مستقیم و بسا مشکلات ما را حل میگرداند.
من خوابی دیده ام: که این زندانی اکنون رها میگردد، و بر سریر سلطنت می نشیند!
خوب بیندیشید!
این اسیر بی گناه کیست؟
فکر است فکر!!

(از مجلهٔ سروش شماره ۱ جلد ۳،
۱ جون ۱۹۵۷ـ ۱۱ جوزا ۱۳۳۷)

# دُخت غزنه

تابستان سال ۱۸۳۹ یکی از بدترین ایامی است که بالاحصار تاریخی غزنه دیده است! در همین سال قوای متجاوز انگلیس موسوم به لشکر اندسر بعد از گشایش قندهار بر غزنه تاختند و شهرستان محمود را محاصره کردند.

این شهر بهمت شهزاده غلام حیدر فرزند دلاور و غیور امیر دوست محمد خان دفاع و نگهبانی میشد وسپاهیان افغانی با قوای ملی، دشمن متجاوز را از هر طرف مورد حمله صعب قرار داده بودند.

مهر گل یکی از جوانان بالا و بلنه و دلیر و نیرومند اندړ بود که یکدسته جوانان مدافع ملی را قیادت میکرد و در جوار حصار غزنه میزیست. زیبا همسر جوان وی نیز در اکثر معارک با وی همدوش و همدم بود، دستهٔ غازیان مهرگل شبانگاهان بر لشکریان متجاوز شبخونها میزدند و نبردها میکردند و مهتر موسی (قومندان بزرگ قوای ملی) مهرگل را بمنزلت فرزند شمردی و او را گل غزنه گفتی.

مهرگل روزها از منابع ملیون اسلحه و باروت بدست آورده و شبا هنگام بر دشمن مردانه تاختی و اطراف (خواهر زادهٔ امیر که بدشمن تسلیم گردید و جاسوسی کردی) راه داشت و محرمانه دسایس رشید و موهن لال (یکی از جواسیس بزرگ دشمن) را کشف کردی و اطلاع آنرا به سرداران لشکر مدافع ملیون افغانی دادی.

برادر زیبا نور گل نام داشت که توپچی ماهری بود، توپ کلان غزنه، که بر لشکر دشمن آتش می بارید و سران لشکری انگلیس آنرا بلای مهلک می شمردند، به نور گل تعلق داشت و شهزاده همواره آتش باریهای نورگل را بر دشمن بنظر تحسین دیدی!

در یکی از روزهای جنگ، که غازیان افغانی از طرف غزنه بقیادت مهتر موسیٰ هجوم آورده بودند، و مهر گل نیز در صف اول لشکر ملی مرادنه می جنگید، زیبا بخانه رشید رفت و دید که موهن لال با رشید مشغول طرح دسیسه ایست که نورگل را بوسیله یکی از سپاهیان توپچی بکشد و بر حصار غزنه بتازد.

زیبا چون از دسیسه اطلاع یافت، خواست وسیله اي پیدا کند تا شهزاده را ازان واقف سازد و نورگل را از حملهٔ مرگ نجات دهد، ولی در میدان پیکار، رسیدن به حصار دشوار بود و لشکریان دشمن بر غزنه چون حلقه پیچیده بودند.

محاصرۀ غزنی طول کشیده بود و یک ماه کامل درین گیروداد گذشته، غازیان افغانی بقیادت شهزاده و مهتر موسٰی از شهرستان محمود دفاع کردندي و چون شیر ژیان جنگیدندي، غزنه سر خود را بدشمن فرو نمي آورد، و روح محمود و سنائي در تپش و هیجان بود!

لشکریان دشمن چون با سلاح جدید و آتشین مخرب مسلح بودند و جواسیس ایشان نیز بهر طرف در اغوای عنا ضعیف می کوشیدند و پول و طلا را مانند سنگریزه می ریختند، وضع مدافعان غزنه، روز بروز مشکل تر می گشت و حلقۀ محاصره تنگ میشد.

در یکی از روزهای گرم، که آفتاب از سپهر بشدت می تابید (صبح ۲۳ جولائی ۱۸۳۹) سران لشکریان انگلیسی کاپتین پیت و دیورند و مکلود همدست شده خروارها باروت را در زیر نقب حصار غزنه گذاشته و دروازهای حصار را بکلی از بین بردند اما توپخانۀ نورگل هنوز آتش افشانی میکرد و بر لشکریان متهاجم گله های هولناک را مانند تگرگ می بارید.

درین گیر و داد دخت جوان و زیبای غزنه که لباس مردانه پوشیده بود، کوشش میکرد تا خود را بحصار نزدیک سازد و نورگل را از طرح دسیسۀ دشمن آکه کند، در بین گله های تفنگ و توپ و خاک و دود بالا میرفت!

وی میدید که دستهای ملیون با شدت دفاع میکنند و دران میانه مهرگل نیز چون شیر ژیان می تازد، ولی او وظیفه دیگری داشت که بایست آنرا بسر رساند.

این دخت جوان زیبا بود!...

سواران دشمن از هر طرف می تاختند، پیادگان با عجلت بسوی حصار میدویدند، توپخانهای دشمن در حدود ۱۵ هزار نفر بر شهرستان محمود یورش آورده بودند، هوا عبار آلود بود، دود باروت و توپها سپهر برین را فرا گارفته بود، زهره دلاوران میشگافت! تگرگ مرگ می بارید! اما غزنه!... شهرستان محمود... مهد عظمت کهن... مدفن ثقافت و تهذیب!... تسلیم نمی شد! زیرا توپخانۀ نورگل هنوز آتش می بارید! و این میدان، سپاهی مدافعی مانند مهرگل داشت!

جنرال برنس خون دل میخورد، مکناتن میدوید جنرال کین میتاخت، موهن لال فتنه می انگیخت، ''رشید'' رشد از دست داده بود. ''شجاع'' می شکوهید!

زیرا: غزنه و حیدر سر تسلیم فرو نیاوردند و چهل روز در محاصره و پیکار و نبرد خونین گذشت! و فرزندان غزنه چون پروانگان بر چراغ غزنۀ باستانی پر میزدند، میسوختند، سر می تاختند، بخاک و خون می تپیدند! میسوختند، سر می باختند، بخاک و خون می تپیدند!

غزنه مهر محمود و قهر جهانسوز و سوز سنائی دیده بود از تجاوز فرنگ ننگ داشت! از آرامگاه محمود ''الحمیه'' بگوش میرسید و از منارهای سر بفلک کشیدۀ غزنه آوازهای ''الفلاح'' شنیده میشد.

صدای توپ نورگل و چکاچاک شمشیر مهرگل هنوز خاموش بنود! زیبا با لباس مردانه بالا میرفت و میدید که شهزاده حیدر هنوز بر فراز حصار قرار دارد و جوانان جنگی دور او را حلقه زده اند و از حصار واژگون غزنه دفاع میکند.

زیبا بالا میرفت! دود و آتش چشم او را خیره کرده بود، ولی همت نباخته بود، دخت افغان از میدان قهر و خون و آتش هراسی ندارد.

دسته های لشکریان فرنگ نیز بالا رسیدند و جنگ دست بدست کرم گردید، جوانان تفنگها را فرا گذاشته، شمشیر و خنجر بکف گرفتند، میزدند، میکشتند، می افتادند و تپه های بالا حصار باستانی غزنه بخون رنگین گشت.

زیبا بالا میرفت!...

چون به برج بلند حصار رسید از دور دید که نورگل هنوز بمردانگی آتش باری مینماید، صد گز دور بود... به عجلت قدم بر میداشت! دید... که دست خائنی فراز آمد و خنجری در قلب نورگل فرو برد، تا که زیبا بدانجا میرسید، نورگل نفس های آخرین خود را می شمرد و با تن گلگون بر زمین افتاده بود!...

سپاهیان ملی مهرگل نیز در پایان برج بانیزه باران فرنگ دست بنبرد باز دیده بودند و مهرگل با تن خونین میجنگید و آخرین ضربات شمشیر خود را بدشمن حواله میکرد، وی نیز افتید... و زیبا بوسه آخرین خود را از گونه های خون آلود همسر شهید خود گرفت!

سپاهیان دشمن دور زیبا را فرا گرفتند و او را در گروه اسرای جنگ بردند، ولی چون دیدند که زن است او را به لیدی سیل یکی از بانوان رحمدل فرنگ که درین جنگ با همسر خود جنرال سیل همراه بود، سپردند.

لیدی سیل بانوی مهربان و همدردی بود... زیبا را با مهر و شفقت پذیرفت و از داستان خونین و حمیت همسر و برادرش واقف گشت؛ اما زیبا گفت: دنیا در نظرم تاریک است، غزنه را مفتوح و حیدر را اسیر می بینم... چون زنده ام، از روح محمود و سنائی خجلت می برم.

زیبا با لیدی سیل فراز حصار غازنه رفت و دید که کاخهای واژگون غزنه و آرمگاه محمود و سنائی پامال سم ستوران فرنگ است و نعش های هزاران فرزند شهید آن بهر طرف افتاده.

وی نیز زندگی را ننگ پنداشت، خجلت کشید، مرگ را بر حیات اسارت ترجیح داد، از فراز حصار خیزی زد... چون دیدند در پای قلعه نعش زیبای دخت غزنه افتاده بود.

بلی! وی ننگ استارت را نبرد... مهد دلاوران و غزنه باستانی را در دست بیگانکان دیده نتوانست، براهیکه مهرگل و برادرش رفته بودند، رفت...

اما کنون... بعد از گذشتین یک قرن که نه حیدر مانده و نه شجاع... و کاخ استعمار و تجاوز بکلی واژگون شده... چون هموطنان مهرگل در کوهساران غزنه، جشن آزادی گیرند، بروان دخت غزنه درودها فرستند و امثال مهرگل و حیدر را به نیکی یاد کنند.

زیرا: ایشان در راه آزادی از جان گذشته اند.

از داستانهای واقعی جنگ استقلال افغانستان

# نازکو

ملا نظر پیر مردی نیرومندی بود، بالای بلند و چهرهٔ ملیحی داشت، از دیدگان وی آثار مروت مشاهده میشد، وی با خوانوادهٔ کوچکی در یکی از خانه های ساده و محقر کوچه های شهر قندهار اقامت داشت، پهلوی خانه اش مسجدی بود که دران امامت کردی و روزانه در یکی از بازارهای نزدیک به دکانداری پرداختی.

مردم کوچه ملا نظر را بنظر احترام میدیدند، زیرا مرد دیندار و پیشه وری بود، از کسی چیزی نمیخواست و بر بازوی خود اتکا داشت، ولی تا میتوانست با دیگران نیکی میکرد و بار ناتوانان را سبک میساخت.

ملا نظر مردی توانگری نه بود، دکان ساده و بسیطی داشت، ولی بحسن معامله مشهور بود، بنا بران مردم از بازارهای دور برای خریداری بدکانش می آمدند، وی مال خوب را به قیمت مناسب میفروخت و با مشتریان به مهربانی و نرمی رفتار میکرد و گاهی به بینوایان لوازم شانرا وام نیز میداد، و اگر مقروضی از مستمندی خود به وی میگفت، موعد دام را دراز میکرد و احیاناً پولهای جزوی را به بینوایان می بخشید.

سحرگاهان که نماز صبح را بجماعت در مسجد ادا میکرد به دکان خود میرفت و شام که خورشید جهانتاب فرو می نشست به خانوادهٔ کوچکش می آمد، فرزند ده ساله گلو او را استقبال میکرد و دخترش نازکو که نو نامزاد شده بود، باتبسم های لطیف به پدر شاد باد و خوش آمدید میگفت.

پدر وی هر یکی را بوسه میکرد، ولي بیاد همسر خود (مادر اطفال) که چند روز قبل از جهان در گذشته بود، اشک حسرت میریخت و بر تنهایی اطفالش افسوس میخورد.

نازکو دختر گل پیکری بود، چشمان سحرانگیزی داشت، چهرهٔ معصوم و زیباکش بیننده را بخود جذب میکرد، و هنگامیکه تبسم های لطیف بر لبانش پدید می آمد، فریبنده تر میگشت! نو بسن رشد رسیده

بود، که سایهٔ مادر مهربان از برش دور گشت، و پرورش برادر کوچک و خدمت پدر پیرش به وی مفوض شد.

در ایام واپسین زندگانی مادر، نازکو را با جوانی از باشندگان بیرون شهر نامزاد کرده بودند، ولی روزی چند نگذشته بود، که نازکو مادر مهربان خود را از دست داد، و شاطرهای حزین مرگ مادر، او را از تصور، عشق جوانی، باز داشت. بنابرین در عین زیبائی و جمال خدا دادی که داشت از جبین وی آثار کدورت نمایان بود، ولی گاهی آمال عشق و جوانی برین مصیبت چیره می آمد و نازکو را بیاد شوهر آئندهٔ خود می افگند و باری بامید سعادت آتیه چهره اش میشگفت و تبسمی نمکین بر لبان رنگین وی پدید می آمد.

دختری که در دامن عفاف پرورده شده و از ابوین پاکدامن و متدینی زاده باشد و جز محیط خانه و مستوری بروی بیگانگان چشمی نکشوده باشد، آمال و تصوراتش هم درین محیط محصور میگردد، و ازینرو نازکو اگر تصوری میکرد حیات خود را در آینده با شوهرش در محیطی ساده و بی آلایش و با عشق و عفت بخاطر می آورد و چون تصور فرزندان کوچک و پرورش انرا میکرد، باری خوش میگشت و گلو را بخود نزدیک کرده رویش را میبوسید.

در یکی از روزهای بهاران نوای دهل و کوس از کوی و برزن برخاست و مردم گفتند که فرنگی بر خاک وطن تجاوز کرد، و اینک فرض است که تمام مردم بغزا برایند و از خاک اسلام دفاع کنند، علما بجهر اعلان کردند، که بر همه مسلمانان جهاد فرض گشت، مردم کوچه فراهم آمدند که تا شام همان روز باید به نیت غزا و دفاع وطن از شهر برایند و تا شام مهلت است، که هر کس سلاحی پیدا کند و توشه و زادی بگیرد.

ملا نظر چون این ماجرا را در دکان شنید و دید که تمام دکانداران دیگر هم دکانها را تخته کرده بعزم جهاد برخاستند، وی نیز تخته بر دکان نهاد و با عجلت بخانه آمد و مدتی به فکر رفت، که سلاحی از کجا بدست آرد و این اولاد بیکس خود را بکی گذارارد؟

برخاست و درب خانهٔ همسایه را زد و گفت: من چون امشب عازم میدان جهادم، این دختر و طفلک خود را بخدا و شما سپرده ام، اگر مُردم دختر را بشوهر خود بسپارید!

شامگاهان چون ما بمسجد شدیم تا نماز شام را ادا کنیم، دیدیم که احدی از مردان باقی نمانده و همه اهل کوچه به غزا بر آمده اند و تنها چند نفر طفل در عقب امام کوچه نمازگذاردیم.

ملا نظر نیز در قطار اول غازیان راه خدا کمر بست و شمشیر را بعاریت از دوستی گرفت و دختر و طفلک بیکس و بینوای خود را بخدا بازگذاشت و تا شام همان روز همه را وداع گفت.

نازکو از دوری پدر سخت رنجید و فراوان گریست، چشمان سحرانگیزش سرخ گشت، گلو نیز چون پدر را شامگاهان در خانه ندید، بآواز بلند گریه کرد.

اما ملا نظر... شب را با یاران مجاهد بصبح رسانید و میرفت... تا سحرگاهان بجائی رسید که از دور لشکر دشمن نمایان بود و آواز توپ های آتشبار شنیده می شد، طیاره های جنگی نیز در فضا میغرید... و بمهای مهلک بر گوره مجاهدین فرو می ریخت.

چند روز بعد به نازکو خبری را رسانیدند که نامزد محبوبش نیز به غزا رفته و کمر مجاهدت بسته است، اکنون نازکو در عالم خیال پدر و شوهر خود را در میدان جهاد تصور میکرد، گاهی خوش میشد و بخود میبالید که دو مرد غازی را به دفاع وطن فرستاده است، ولی چون بیچارگی و بیکسی خود را بخاطر می اورد پریشان میگشت! و اشک خونین از دیدگان میریخت.

دختر نو جوانی که آمال زندگانیش به پدر و شوهر نامزادش وابسته است، در عالم بیکسی و نومید ماند، همسایگان تیمار این بازماندگان ملا نظر را بخوبی میکردند و به پرسان احوال شان می آمدند، وسایل زندگانی را تهیه میدیدند و شبانگاهان که زنان کوچه فراهم آمده و برای فیروزی غازیان دعا میکردند هر کس نازکو را مینواخت و گلو را می بوسید، زیرا پدر ایشان ایثار بزرگی کرده بود، در عالم پیری دو نفر اولاد بیکس خود را باز گذاشته و بعزم جهاد کمر بسته بود.

ایام بهار ۱۹۱۹ع بگذشت، غازیان قندهار از میدان جهاد برگشتند و استقلال افغانستان از طرف قوای متجاوز برسمیت شناخته شد، مردم جشنها گرفتند و خوشی ها گردند. هر کس بخانه خود امد، و اقارب بدیدار غازیان دور افتاده شاد گشتند جوانان با افتخار تمام می آمدند و پیران چشمان ایشان را می بوسیدند، که از جهاد راه خدا و وطن برگشته اند و غازی شده اند.

نازکو منتظر بود که پدرش بزودی خواهد امد، ولی شبی که همسایگان وی از میدان جهاد برگشتند، آوازۀ حسرتناکی بگوش نازکو رسیده که گویا پدر مهربانش در میدان غزا شهید شده است! این آوازه که پوره یقینی نبود، نازکو را بگریه آورد، ولی بعد از لحظه ای بخود آمد و گفت: بر مرگ غازی و شهید گریستن نشاید، آن کس که در راه خدا و وطن شهید شده خوش بخت است و من افتخار دارم که دختر مرد غازی شهیدی ام!

درین افکار و تصورات بود که زنی از همسایگان آمد و بر نازکو مژدۀ وصول شوهرش از میدان جهاد فرو خواند، سیمایش از شرم سرخ گردید، ولی از زندگانی همسر آینده خوش شد، به سپاس یزدان پرداخت و با خود گفت: اگر پدر رفت، خوش رفت، زهی سعادت که نصیبش گردید، غازی و شهید!... سپاس خدای را که نامزاد...

همسایگان که بموجب وصیت ملا نظر مجاز بودند در صورت شهادش نازکو را بشوهرش بسپارند، روز بعد ترتیباتی ساده برای این کار گرفتند و شبانگاهان که نازکو زیبا در آغوش شوهر غازی جوان خود آرمیده بود، ناگاه صدای پدر را از بیرون در شنید، با تعجب و حیرت برخاست، درب خانه را کشود، دید ملا نظر

بالبان خندان و چهرهٔ بشاش روی او را میبوسد و میگوید: نازکو! خوشا بر تو! منکه در میدان جهاد بدست دشمن گرفتار شده بودم نجات یافتم.

نیکا و فرخا! که پدر غازی و شوهر غازی داری! خوش بزی!

# باستان آزادگان

صبا به لطف سوی کوهسار "غور" خرام!
ز ما بر اهل وطن گو بسا درود و سلام
بجشن فرخ آزادی وطن بادا:
شبان جشن بخوبی و روشنی چون بام
مباد فرهٔ ایزد، فراز ازان میهن
مباد زاهرمنش تیرگی بتاری شام
همیشه باد وطن خرم و خوش و معمور
همیشه باد پنهگاه خلق و کهف انام
خدا نداد بکس کشوری چنین که برد:
همیشه فیض فضیلت ازو دگر اقوام
بود ز "بلخی" و "هجویریش" جهان روشن
"جمال" اوست که گیتی بر آورد زِ ظلام
گر استوار نداری ز سومنات بپرس
زِ مولتان و لهاور شنو فصیح کلام
خدا بدشنه شاه جهان کشا "محمود"
زِ دود رنگ جهالت ز چهرهٔ ایّام
نهاد بنیهٔ فرهنگ و کیش سخت نکوی
بگوش خلق رسانید ایزدی پیغام
چه خونها که براه خدا چو دجله بریخت

چه مردمان که برین راه کرده اند قیام
برای قوم چنین زیبدار بآزادی:
زید بروی زمین در کمال عزت و نام
خدای را رهی و رهبر خلائق او:
ستیزه جو بعدوی خواست چون ضرغام
ز تاب تیغ عدو سوز او جهان روشن
ز رخش برق جهانتاب او شکست ظلام
کشود "احمد" او "سرخ دژ" بکشور هند
همان دیار که "سوریش" داد عدل و نظام
بکوهسار جلیل و منیع او سوگند
ببلخ و بست و هریوا و کابل و بگرام:
که نیست کشور دیگر بسان وی زیبا
که نیست خطۀ دیگر چو مرزا و پدرام
بجشن ملی افغانیان راد و دلیر:
بمهرگان و باردی و بهمن و بهرام
مرا به عتبۀ این قوم راد باد درود
خوشی بخاک چنین ملک باد و فره مدام!

از مجله سروش جلد ۲ شمار ۷
۱۵ اگست ۱۹۵۷\\ ۲٤ اسد ۱۳۳٦ش

# دریای خشک لب

تا پا بکوی آن بت رعنا گذاشتیم
پای دگر باوج ثریا گذاشتیم
صاحب نظرکجاست؟ که گوئیم راز دل
در بند زلف بود دل آنجا گذاشتیم
گیتی است جایگاه فساد و گزند و زور
این جیفه را بطالب دنیا گذاشتیم
در راه عشق گام بدشت جنون زدیم
مشکو و شهر و خانه به لیلی گذاشتیم
دامان دوست چون بتأسف ز دست رفت
دست دگر بگردن مینا گذاشتیم
گوهر نداشت ساحلِ دریای خشك لب
رخت امل به دامن صحرا گذاشتیم
اندوه فزود منظر آوردگاه دهر
جز درد سر نبود، بران پا گذاشتیم

# څلورمه برخه

# د استاد حبيبي څو تصويرونه

# او د خپل لاس ليکونه

يادښت: موږ د کتاب په دې وروستۍ برخه کې د استاد يو شمير انفرادي او له نورو دوستانو سره ګډ تصويرونه چې د دوي د عمر بېلابېلو وختونو او د دوي د ژوند د بېلا بېلو وختونو نمايندګي کوي وړاندي کوو او هم د استاد څو د خپل لاس ليکني چې د دوي په خپل قلم دي ستاسو مخي ته ږدو، دا هم بايد ياده کړم چه د استاد دا ليکني زما او يا زما د کتابوبو په باب دئ ځرنګه چې نوري ليکني يې دلته را سره نشته نو همدا ليکني يې د نمونې په توګه دلته عکس کېږي، او هم بايد د خپل ګران ورور او پياوړي دوست پروفيسر ولي محمد خان سيال کاکړ څخه مننه وکړم چې دې برخي ته يې د استاد دوه مهم تصويرونه چې استاد دوي ته د يادګار په ډول سپارلي وو، د نشر له پاره را ګړل.



علامه عبدالحي حبيبي ـ ۱۳۲۰ ش کال



علامه حبيبي ۱۳٦۰ ش کال



علامه حبيبي په خپل کتابتون کي




استادان و محصلین دوره‌ء اول فاکولته ادبیات پوهنتون کابل در سال ۱۳۲۵ ش\۱۹٤٦ ع

ایستاده در صف دوم : سردار محمد منگل، عتیق الله پژواک، عبدالرزاق ایازی، محمد رحیم گردیزی، محمد خالد روش،ن, محراب الدین، عبدالکریم حکیمی، محمد عمر نعیمی، عبدالرحیم هاتف، عبدالحکیم رنگین

نشسته در صف نخست: پاینده محمد زهیر، امین میرزا، عبدالروف بینوا، هاشم شایق، سیدعبدالله، عبدالحی حبیبی، محمد کریم نزیهی، محمد اعظم ایازی.




د علامه حبيبي مقبره په کابل کي

# ژبه پالنه

پښتو یوه لرغونې آریایي ژبه ده، چې د مکتوبو ترلاسه شویو آثارو تاریخ یې
تر ۱۲۰۰ کاله قدیم دی.

دغې ژبې ته د تاریخ په مختلفو دورو کې ځینو خواخوږو او پښتنو ځینو کارونه کړي چې
د دغو پالنو او روزنې په باب په متفرق ډول ځینې معلومات په بعضو کتبو کې
ضبط دي.

او دا دی زموږ ځوان لیکوال او د پښتو ژبې او ادب ~~[illegible]~~ ځوان څېړونکی ښاغلی رفیع دغه
خواره واره معلومات په دې کتاب کې سره راغونډ کړي چې د دغې ژبې د روزنې
او پالنې پر سیر یوه عمومي څېړنه ده.

دغه کتاب د پښتو د نومیالي ادیب محمد هوتک د ژوندې خزانې پر نسبت لیکل شوی
او بیا ترننه چې د پښتو ژبې او ادب ته کوم کارونه تر اوسه شوي هغه ګردیکښې
په مستند ډول سره راټول شوي دي.

زه د دې کتاب مؤلف ګران رفیع ته د خپلې ژبې او ادب په لاره کې نور
ډېر بریالیتوبونه غواړم، او د دغه کتاب چاپ د محمد هوتک د ملي سیمینار
په ویاړ یو غوره اقدام او ویاړلی کار بولم. زموږ د زلمو [illegible] دې تل همت
مل وي چې خپلې ~~[illegible]~~ ژبې ته ډېر ګران او قیمتي کارونه وکړي.

عبدالحی حبیبي
کابل - جمال مېنه
۲۰ حمل ۱۳۵۷

کابل . جمال مینه ۱ میزان ۱۳۴۵

(BIBLIOGRAPHY لپاره دی)

په ادبیاتو د دنیا کی کتاب پېژندنه

علمی اساسی موضوع ده چې هر لیکوال او څېړونکی او هم هر عادي زده کوونکی او ښوونکی

ورته اړ دی، او موږ هم باید د دنیا په ژوندیو ژبو کی داسې په سوو کتابونه څېړلي

او هم په پښتو کی یې درسی مرحله ته او خلکو ته ور زده کړو.

پښتو ژبی په دې وروستیو پېړیو کی په چاپ، تر ګډه په څېړونه اړونده [illegible]

کړی دی او کوم رخت چې د ۱۸۰۰ م په شاوخوا کی د چاپ صنعت هندوستان ته

راورسېدلی، نو د پښتو څېړنی کتابونه هم چاپ شول.

هر څوک چې په پښتو کی څېړنه یا کتنه کوی، باید په دې وپوهېږی چې

تر اوسه کوم کوم کتابونه چاپ شوی یا لیکل او تالیف شوی دی ؟

زما په خیال د پښتو ټولنی دا لومړی فایده ده چې د دې مقصد لپاره د

څېړونکو او لیکوالو سره کومک وکی او د پښتو چاپ شوو کتابو یو رهنما ورانډی کړی،

ښاغلی رفیع د «پښتو پانګه» هم د دې مقصد لپاره کښلی ده، چې په دې

لومړی برخه کی ۵۰۰ کتابونه ښودل شوی دی، او د هر کتاب لنډ تعریف او موضوع

یا کښه هم ورسره ده.

زه د دې کتاب چاپول ګټه ور ګڼم او له رفیع صاحب څخه دا غواړم چې د دې

کتاب دوهم او دریم ټوک هم بشپړ کړی، چې د پښتو چاپ شوو آثارو مجموعی [illegible]

او دده دا سعی د ستاینی وړ ګڼم او امید لرم چې د پښتو ټولنی په همت ژر چاپ شی.

[illegible signature]

د پښتو ټولنې بناغلي مشره!

ستاسې د ۲۲۸ گڼې ۳۰/۱۱/۵۶ مکتوب په ځواب کې په احترام لیکم:

بناغلی حبیب الله رفیع د پښتو یو ځیرک، ځوان او فعال لیکوال او څېړونکی دی
تر اوسه یې پښتو ته په دغه لږ عمر کې درانه خدمتونه کړي، او د لا زیاتو خدمتونو
استعداد لري او هم شوق او ذوق ورسره ملگري دي.

تر اوسه د ده تقریباً دوه سوه تحقیقي مقالې په مطبوعاتو کې خپرې شوې
او شل منثور او منظوم کتابونه او کتابگوټي یې هم چاپ شوي دي، چې د لته یې
د تحقیق او څېړنې او پلټنې له پلوه دغه آثار د یادولو وړ دي:

(۱) د خلگو سندرې د ۱۳۴۹ ش چاپ (۲) د هوتکو نامې د ۱۳۴۹ ش چاپ،
(۳) د پښتو ښځینه تذکره د ۱۳۵۰ چاپ (۴) ادبي ستوري د ۱۳۵۳ چاپ.
(۵) پښتو پانگه د ۱۳۵۴ دوه ټوکه ۱۳۵۶ (۶) د خواجه عبدالله انصاري د مناجاتونو ترجمه ۱۳۵۵
(۷) د ... یاد ۱۳۵۵ (۸) د پښتو پر کتابونو او مطبوعاتو باندې دوه ټوکه ۱۳۵۶
(۹) د پښتو متونو چاپ: رحمان بابا - معرفة الافغاني - د پښتو نثر ... ۱۳۵۶
(۱۰) پنځه ټوکه د شعر مجموعې له ۱۳۵۲ تر ۱۳۵۶ پورې.

دغه ټولې لیکنې چې د خپلې ژبې ته د ده خدمتونه کړي دي د تقدیر او تحسین
وړ دي، چې په ځوانانو کې به یې ساری لږ وي.

نه پوهېږم چې په رسمي توگه به د ده شمول په مسلکي غړو کې تر اوسه ولې نه منل کېږي؟
دغه د ادبیاتو د فاکولتې ځینې راوتلي زده کړه شاگردان چې د خپل لیسانس په دوره کې فقط یوه
رساله لیکي، په هغه سره د عضویت مستحق کېږي، نو چا چې شل د ځینې رسالې او
علمي کتابونه او په سوو مقالې کښلي وي، هغه به نو ولې مستحق نه وي؟

زه د ده د کامل لیاقت تصدیق او سپارښت کوم، چې پښتو ټولنه دې
دی په علمي غړیتوب ومني. او د ده له علمي استعداده او ذوقه څخه دې گټه واخلي

په ډېر احترام

[signature]

۱۰/۱/۵۷

# يادونه او اعتذار

لوي استاد پوهاند عبدالحي حبيبي داسي وخت وفات شو چي زه له خپل هيواد نه د ظلم او استبداد او د کفر و الحاد وحشي لاس را بېل کړي يم او د مهاجرت او آوارگۍ بدي او ترخې ورځي شپې تېروم.

له يوې خوا له استاد سره ميني او پر ما باندي د هغوي حقوقو دې ته هڅولم چي زه د استاد پر مړينه د قلم اوښکي تويي کړم، خو له بلي خوا مي لاس تش او د تحقيق او څېړني له ابتدايي شرايطو نه هم محروم وم، خو له دې سره، سره د استاد مينه غالبه شوه او زه يې اړ کړم چي په استاد باندي يوه رساله وليکم. رساله مي هماغه وخت چي د استاد له غمجني مړيني نه خبر شوم پيل کړه خو د ژوند نا آرامۍ او د موادو نشتوالي دا کار پوره يو کال اوږد کړ او اوس چي د استاد د مړيني يو کال پوره شو زما دا ليکنه هم سر ته ورسېده خو بيا هم ليکنه تر زياته حده د کتابونو او اسنادو پر ځاي زما په حافظه او زما په خپل برداشت ولاړه ده، له دې کبله په کتاب کي د ټولو شويو تېروتنو، نيمگرتياؤ او نا رسائيو د بخښني غوښتنه له تاسو درنو لوستونکو څخه کوم. او يو ځل بيا د لوي خداي له لوي دربار څخه د لوي استاد پاک روح ښاد او هوسا غواړم.

په درناوي

ح، رفيع

١٣٦٤\٢\٢٠

پېښور، کوز تاکال